









# د اوج ټکي ته رسېدل: په افغانستان کې له سیاسي پلوه د لوړو ښوونځیو فعالېدل

داکترانتونیوجیستازی او علی محمد علی

تله ۱۳۹۴

EMBASSY OF FINLAND
KABUL

۱۳ کاله
باکیفیته څیړنه

څیړنې د بنه
افغانستان
لپاره
AREU

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

د تحلیلي خپرونو لړۍ

# د اوج ټکي ته رسېدل:
# په افغانستان کې له سیاسي پلوه د لوړو ښوونځیو فعالېدل

داکتر انتونیو جیستازي او علي محمد علي

تله ۱۳۹۴

دغه څېړنه د فنلنډ د سفارت په مالي مرسته تر سره شوې ده.

FORMIN.FINLAND.FI
EMBASSY OF FINLAND
KABUL

د پښتۍ انځورنه: (له پاسه ښکته): په کابل کې د استقلال په عالي لیسې کې یو زده کوونکی د کتابتون مسئول، ۲۰۰۸(انځور له، ګلبدین الهام)؛ په بدخشان کې زده کوونکي له ښوونځي څخه بهر له یو بل سره خبري کوي، نومبر ۲۰۱۳( انځورله، مسعوده کوهستانی)؛ زده کوونکي په بدخشان کې، نومبر ۲۰۱۳( انځورله، مسعوده کوهستانی)؛ زده کوونکي د "زده کوونکي د فرخندې ملاتړي" تر عنوان لاندې د خلکو د حملې قرباني فرخندې په ویاړ په یوه لاریون کې، مارچ ۲۰۱۵، کابل (انځور له، ادریس لطفی).

ژباړن: محمد کاظم ملوان

د خپرونی کود: ۱۵۱۸P

© ۱۳۹۴ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد سره ځینې حقوق محفوظ دي. کیدای شي دغه خپرونه تکثیر او بیا چاپ شی او یا دبیا لاسرسی په دستګاه کې زېرمه او یا په هره بڼه او هره وسیله لکه: برقي ضبطی او نورو وسایلو سره انتقال شی، په دې شرط چې د لیکوال او د افغانستان د څېړنی او ارزونی د واحد د مشخصاتو یادونه په کې وشی. د هغې پلورل او پیرودل او له هغې څخه هر ډول سوداګریزه استفاده منع ده. که چیرې دغه خپرونه بیا خپره او یا د بریښنایي بڼه په واک کې ورکړل شی، باید دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد انترنتی کرښه www.areu.org.af په هغه کې چاپ او یا په انترنتی صفحه ولیکل شي. د هر ډول ګټی اخیستنی لپاره چې پورته یې یادونه ده شوې باید مخکی له مخکې د خپرونکي دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد لیکلې اجازه له انټرنیټی سایټ www.areu.org.af او یا له ۷۹۹ ۲۰۸۵۴۸ (۰) ۰۰۹۳ شمېرې سره د تماس له لارې ترلاسه کړی

## د لیکوالو په اړه

داکترانتونیوجیستازی د لندن د کینګس پوهنتون (KLC) پروفیسور دی. هغه "په افغانستان کې د قانونیت ساتنه" په ۲۰۱۳، او په ۲۰۱۱ کال کې "د تهدید او اجبار هنر" په شمول یو لړ مقالې، لیکنې او کتابونه لیکلی دی. داکتر جیوستازی اوس اوس په افغانستان کې امنیتی ستونزې د بغاوت، اردو او پولیسو په شمول تر څیړنی لاندې لري.

علی محمد علی یو خپلواک څیړونکی او ارزوونکی دی. نوموړی د بنسټپالو اسلامی ډلو، د افغانستان سیاسی اقتصاد، دولت، شورش او طالبانو په اړه تخصص لري. علی د مشاور په توګه له یو لړ ملی او نړیوالو موسسو سره کار کړی او په یو شمیر څیړنیزو خپرونو کې یې دنده تر سره کړې ده.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څیړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومشبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څیړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې د ترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو ، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څیړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۵ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC)، د نړیوال پرمختګ انسټیټوټ (ODI)، نړیوال بانک ، د امریکا د سولې انسټیټوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې ( GIZ-GOPA)Gmbh، د افغانستان لپاره د سویدن کمیته (SCA)، د ختیځ او افریقایی مطالعاتو لپاره د لندن پوهنتون (SOAS)، د امریکی د متحده ایالاتونو د نړیوال پرمختیا سازمان (USAID)، د هالند علمی څیړنو دفتر (NWO)، د غنمو او جوار د تحقیقاتو بین المللی مرکز (CIMMYT)، د حکومتداری د امنیت ګروپ (SGG)، په مرکزی آسیا کی د کرنی او خورلو د پیاوړتیا اداره (LANSA) او د فیلنډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

## مننه

دا پروژه د لیکوالانو د دووکلونو د کار پایله ده چې هڅه یې کوله د هغې لپاره سرچینې او منابع برابرې کړي. د مننې په ویلو سره، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) ښاغلي نادر نادري ژمنه کړې وه چې په **۲۰۱۴** کال کې به پروژه تمویل کړي، چې پایله یې د دې ریپوټ خپرول دي. لیکونکي غواړي له متین بیګ د سیمه ییزو اورګانونو خپلواکه اداره پخوانی سرپرست او اکبر قریشی څخه او مرکه کوونکو ډلې او ښاغلي شعیب نجفي زاده څخه مننه وکړي، چې د مرکو د کولو درنه دنده یې - کله چې ښوونځي د ژمنیو رخصتي له کبله تړلي وو- پر غاړه واخیسته. د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د تصحیح او چاپ ډله چې دا ریپوټ یې بشپړکړي، او نور هغه کسان چې ددې پروژې په بشپړولو او د ریپوټ په چاپولو کې یې برخه اخیستې، د ډېرې مننې وړ ګڼل کېږي.

# د موضوعاتو لیکلړ


د مطلب لنډیز ............ ۲

۱. سریزه ............ ۳

۲. میتودولوژي ............ ۴

۳. په ټولکي کې د سیاست په اړه د پوهنې د وزارت دریځ ............ ۵
۳.۱ بندیز او د هغه تطبیق ............ ۵
۳.۲ توپیري چلند (تبعیض) ............ ۸
۳.۳ ښوونکي او سیاسي فعالیتونه ............ ۱۰

۴. هغه سیاسي سیستم چې پخپله بیا جوړېږي: ګوند ته د فعالینو جذبول ............ ۱۲
۴.۱ د غړیتوب بېلګې ............ ۱۲
۴.۲ موخې ............ ۱۴
۴.۳ فعالیتونه ............ ۱۵
۴.۴ سیاسی نظری ............ ۱۶

۵. د سیستم د ننه ګوتنیوونکي ............ ۲۲
۵.۱ د ګومارنو بېلګې ............ ۲۳
۵.۲ سیاسي نظریې ............ ۲۳
۵.۳ دوه مخالفین ............ ۲۵

۶. له سیستم سره مخالفت: د افراطي مخالفینو فعالین ............ ۲۶
۶.۱ جلب او جذب ............ ۲۶
۶.۲ موخې ............ ۲۷
۶.۳ فعالیتونه ............ ۲۸
۶.۴ سیاسي نظریې ............ ۲۸

۷. آیا د لوړو ښوونځیو زده کوونکي د افراطیت په لور روان دي؟ ............ ۳۳
۷.۱ د زده کوونکو ترمنځ مخالفتونه ............ ۳۳
۷.۲ د سیاسي کېدو لاملونه ............ ۳۴
۷.۳ اورپکی ته جلب او جذب ............ ۳۴

۸. پایله ............ ۳۶

۸.۱ وړاندیزونه ............ ۳۷

۹. ضمیمې ............ ۳۸
۹.۱ د سروې جدول ............ ۳۸

# لنډنومونه

| | |
|---|---|
| BSA | دوه اړخیزه امنیتي هوکړه لیک |
| MoE | د پوهنې وزارت |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت |
| NDS | د ملي امنیت ریاست |

## د اصطلاحاتو لړلیک

**حکومت پلوه ګوندونه:** هغه ګوندونه چې له ۲۰۰۱ کال وروسته يې په حاکم ائتلاف کې برخه درلوده او د امتیازونو او غنایمو په وېش کې يې ونډه لرلې ده، لکه اسلامي جمعیت، ملي جنبش، د وحدت حزب، او نور.

**قانوني مخالف ګوندونه او تشکیلات:** هغه ګوندونه او تشکیلات چې په قانوني توګه ثبت شوي، خو په مستقیمه توګه په حکومت کې شامل نه وو او یا یې له ۲۰۰۱ کال راپدېخوا له حکومت سره کارکول پرېښودل، لکه روند سبز (چې په ټولټاکنو کې یې د ډاکتر عبدالله ملاتړ وکړ، خو وروسته د ملیبیوالي د حکومت له جوړولو سره مخالف شو)، اسلامي دعوت، او د اصلاح جمعیت ګوندونه.

**د حکومت ضد ګوندونه او تشکیلات:** د حزب التحریر او طالبانو په شمول هغه ډلې چې په قانوني ډول ثبت شوې نه دي او له اوسني سیاسي سیستم سره مخالفت لري. ددې لیکنې په متن کې د «اورپکي» او "بنسټپال" اصطلاحګانې ددغو ډلو د فعالینو په اړه کارول شوې دي.

**اسلامپالنه:** هغه سیاسي تمایل ته وایي چې اسلام ته د یوې سیاسي ایدیولوژۍ په توګه ګوري او موخه یې له اسلام سره د نوو پوهو او تکنالوژۍجوړ راتلل دي. له بنسټپالنې سره د نوموړي تمایل توپیر په دې کې دی چې نه غواړي په بشپړه توګه د اسلام بنسټیز او پخوانۍ بنسټ ته واوړي، بلکې غوښتنه یې د داسې حکومت جوړول دي چې واګې یې د لوستو او ژمنو مسلمانانو په لاس کې وي.

**بنسټپالنه:** هغه سیاسي تمایل ته وایي چې د اسلام بنسټیزو سرچینو ته د بېرته ستنېدو د اړتیا په ګټه استدلال کوي. ددغه تمایل بېلګه افغانی طالبان دي. دغه اصطلاح اساساً له تاریخي کبله د مسیحي مذهب د بنسټ د راڅوندي کولو د پلویانو خوځښت ته ویل کېده او وروسته د هغه د معادل اسلامي بنسټپالنې د توضیح لپاره استعمال شوه. (لومړی شکل).




لومړی شکل: د سروې په رڼا کې د افغان سیاسي ګوندونو او تشکیلاتو ماتریکس

## د مطلب لنډیز

د افغانستان په لوړو ښوونځیو کې سیاسي فعالیتونه بند دي، خو په هر حال، دا ډول بندیز لږ اغېزه لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د یوې سروې د موندنو پر اساس، چې له دې لیکنې سره مل دي، سیاسي فعالین په ښوونځیو کې خورا ډېر فعال دي. ددغې لیکنې لپاره له زده کوونکو او ښوونکو فعالینو سره مرکې، د معلوماتو غټه سرچینه ګڼل کیږي چې د افغانستان په لوړو ښوونځیو کې د سیاسي تشکیلاتو فعالیتونه او د هغو د فعالینو سیاسي نظریې توضیح کوي.

په لوړو ښوونځیو کې په سیاسي فعالیتونو بندیز بې اغېزې او بېځایه معلومیږي: په حقیقت کې په عملي توګه په لوړو ښوونځیو کې د سیاسي موضوعاتو په هکله بندیز د پاینښت وړ نه معلومیږي. په دې اړه بندیز د قانوني ثبت شوو ګوندونو له خوا د افراطي او حکومتِ ضد ګوندونو په پرتله ډېر د منلو وړ ښکاري. دا ډول بندیز په تېره بیا د هغو قانوني ګوندونو په زیان دی چې له حکومت او سیاسي سیستم سره ډېر تړلي نه دي، په داسې حال کې چې د لویو ملاتړ لرونکو تشکیلاتو او له ځمکې لاندې پټو ګوندونو لپاره نژدې بې توپیره شمېرل کیږي. داسې ریپوټونه شته چې پخپله ښوونکي ډېر وختونه په خپلو ټولګیو کې په سیاسي فعالیتونو کې ښکېل دي.

لکه چې تمه کېده، د مرکه شوو اکثریت په "حکومت پلوه" ګوندونو پورې اړه درلوده. هغوی خپلو ګوندونو ته په راتلونکي کې د دندې د موندلو د وسیلې په توګه کتل. نوموړي فعالین ډېر لږ یا هېڅکله د خپلو کورنیو له سیاسي تمایلاتو څخه نه جلا کیږي، بلکې برعکس، هغوی د خپلو کورنیو له خوا هڅول کیږي چې له دغه یا هغه ځانګړي ګوند سره اړیکه ولري. داسې بریښي چې د ګوندونو ایدیولوژي، که چېرې وي، ډېرروسته ځای لري او د ښوونځیو په ورځنیو هڅو او حتی بحثونو کې کومه اغېزه نه لري. په ښوونځیو کې حزب ته د جلب او جذب څخه جلا ، نور ځانګړي فعالیتونه لکه په سیاسي چارو باندې بحث کول هم شامل دي.

د فعالینو نظریات له اوسني وضعیت څخه ټینګ ملاتړ کوي، او په پوهنیز سیستم باندې نیوکه ډېر لږ له مخالفت سره مخامخ کیږي. آن تر دې چې اسلامپال ګوندونه هم د ښځو له پرمخ تللو حقونو څخه ملاتړ کوي.

سخته وه مخالف اصلاح غوښتونکي چې د سیستم د ننه نیوکې کوي، وپېژندل شي. هغو کسانو چې مرکه ورسره وشوه تمایل درلود چې نه یوازې د سیاسي سیستم بلکې د پوهنیز سیستم په اړه هم منفي نظریې ولري. دا فعالین په نوو یا نسبي توګه غیرمذهبي ګوندونو پورې او یا په هغو اسلامي او بنسټپاله ګوندونو پورې اړه لري چې له حاکم ائتلاف څخه ایستل شوي دي. نوموړي ګوندونه د دې حقیقت پر اساس سره یوځای شوي دي چې ډېر یې د حکومت په اړه مخالف دریځ لري او ځکه چې له واک لرونکو سره اړیکې نه لري نو هڅه کوي په ښوونځیو کې فعالیت وکړي.په هر صورت، دا ډلې په لویه کچه پخپلو ټولنیزو او ایدیولوژیکي دریځونو کې له یو بل سره اختلاف لري.

هغه دریمه او وروستۍ ډله چې د دې پروژې پر اساس پېژندل شوي ده د حکومت د هغو افراطي غلیمانو په کتار کې شامله ده چې له شته سیاسي سیستم سره د افراطیت له نظره مخالفت لري. د دغو فعالینو له جملې څخه ځینې یې د کابل له حکومت سره د وسله والې مبارزې څخه هم ملاتړ کوي. د هغوی هڅې د نورو دوو نوموړو ډلو په پرتله خورا ډېرې په پټه تر سره کیږي ځکه چې د بندي کېدو او سزا له خطر سره مخامخ دي. په داسې حال کې چې دا فعالین په تېره بیا په افغانستان کې د غربیانو له نفوذ سره دښمني لري ځینې وختونه د وسله وال پاڅون په اړه په ښکاره توګه خپلې نظریې څرګندوي. آن تر دې چې د ښځو د حقونو په اړه خبرې کول هم نه مني. په هر حال، حتی هغه زده کوونکي چې له اورپکو بنسټپالو ډلو سره اړیکې لري لوړو زده کړو ته د لاسرسۍ لپاره هیله من دي.دا موضوع د دې خبرې ترڅنګ چې افراطي ډلې له اقتصادي اړخه لږ فعالو ساحو کې ډېر جلب او جذب لري د دې حقیقت ښکارندویي کوي چې ناهیلي او لوړو تحصیلاتو ته لږ لاسرسی هغه لوی لاملونه دي چې د لوړو ښوونځیو د زده کوونکو د سیاسي کېدو سبب ګرځي.

په ټولیزه توګه، د لوړو ښوونځیو د سیاسي کېدو په اړه، لاس ته راغلی تصور او عقیده داده چې موضوع داسې یو لوښي ته ورته ده چې له زیاتیدونکي فشار لاندې وي او نېدې ده چې د خوټېدلو ټکي ته ورسیږي. د زده کوونکو د ډېر ناهیلیتوب ښکاره څرګندونې، لکه مظاهرې او اعتراضونه، په نسبي توګه لږ دي او که صورت هم ومي کچه یې کوچنۍ ده. په هر حال، د ځینو زده کوونکو په اړه داسې شواهد شته چې د فعالو اړدوړ جوړوونکو ډلو لکه طالبانو له خوا جذب شوي دي. دا پېښه او انکشاف ددې لپاره د نسبي حیرانتیا وړ ده چې طالبانو د یاغیتوب په لومړیو کلونو کې لوړ ښوونځي د جلب او جذب لپاره خپله موخه نه ګرځول.

# ۱. سریزه

د پوهنې سکتور د دولت جوړونې خورا غټه او مهمه برخه ده. ځکه چې ښوونځي د ځوانانو د ملي او مدني پوهې لپاره لويه وسيله ده، نو پوهه يوه ډېره سياسي موضوع ګڼل کېږي. کېداى شي وواېو چې په افغانستان کې زده کړه د سياسي او ټولن پېژندنې له پلوه له ياده ايستل شوې ده.

په افغانستان کې د مرستندويانو عمده او کليدي باور داى چې د دولتي زده کړې مقداري (کمي) پرمختګ تل يو مثبت ټکى شمېرل کېږي او دهغوى له نظره په لوړو ښوونځيو کې د ګڼې شمېرې زده کوونکو شاملېدل په ربښتيا سره خورا لويه لاسته راوړنه ده[1]. په هر حال، آيا ويلاى شو چې دا موضوع تل همداسې ده؟ ځينې داسې ليکنې هم شته چې په باور يې د ځوانانو د زده کړې په شمېر کې ډېروالى د پوهنې د کيفيت د ښه والي ځخه بې برخېتوب او يا د زده کړې د فرصتونو نه شتون، د ځوانانو د سياسي کېدو او سياسي بې ثباتۍ لامل ګرځي[2]. داسې کره شواهد شته چې د کار او استخدام نشتوالى او د افغانستان د پوهنې د سيستم د فعاليت په اړه نارضايتي د بنسټپالو او افراطي ډلو خوا ته د نهيلي شويو ځوانانو د تګ لامل کېږي.

په ۲۰۱۰ کال کې د پوهنتون د زده کوونکو او د هغوى د سياسي درېځ په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) يوه څېړنه ترسره کړه[3]. اوسنۍ پروژه د دولت له خوا په ثانوي او منځنيو زده کړو تمرکز کوي. له دې ليکنې سره د مل پاليسۍ لنډيز «د افغانستان د لوړو ښوونځيو سياسي کېدل» د افغانستان په لسو ولايتونو کې د لوړو ښوونځيو د سروې د موندنو لنډيز وړاندې کوي. په داسې حال کې چې دا ريپوټ د نوموړو موندنو ځخه ګټه پورته کوي، په عين حال کې هڅه کوي هغه ښېلګې وپېژني چې په سروې او مرکو کې د يو لړ موادو د راټولولو له لارې لاس ته راغلي دي. د ژورو مرکو په جريان کې هڅه شوې چې په لاندې پوښتنو پورې اړوند معلومات راټول شي:

آيا زده کوونکي فعالين په افغانستان کې د سياسي بحثونو په اړه څومره پوهه لري او په نوموړو بحثونو کې څنګه درېځ غوره کوي؟

آيا سياسي ډلو ته د جلب او جذب عوامل کوم دي؟

آيا د زده کوونکو په منځ کې د سياسي فعاليت دلايل کوم دي؟

مرکو د منځنيو ښوونځيو په پورتنيوټولګيو کې، چېرته چې سياسي ښکېلتيا د منځنيو ښوونځيو د ښکته ټولګيو په پرتله ډېره ده، تمرکز درلود. د دې موضوع په اړه شته ليکنې خورا ډېرې محدودې دي[4].

اوسنى ريپوټ په پنځو غټو برخو وېشل شوى دى. د ميتودولوژۍ تر جوړولو وروسته، د لومړۍ برخې عنوان«په ټولګي کې د سياست کولو په هکله د پوهنې وزارت درېځ» وو، چې په لوړو ښوونځيو کې په سياسي فعاليت باندې د بنديز د اغېز په هکله ټوليز بحث کوي. بله برخه د حکومت د ملاتړو ګوندونو او ډلو په فعالينو باندې تمرکز لري او په تفصيل سره د جلب او جذب په ښېلګو، موخو، فعاليتونو او نظريو باندې بحث کوي. دوه نورې ورته برخې د حکومت پر ضد د قانوني او غير قانوني تشکيلاتو په هکله په ترتيب سره خبرې کوي.پنځمه برخه، د «آيا د لوړو ښوونځيو زده کوونکي بنسټپال کېږي؟» تر عنوان لاندې د پرله پسې افراطي کېدو په اړه شواهد راټولوي.

---

۱ انتونيو جيستازى "ملت جوړونه د ټولو لپاره نه ده: په افغانستان کې د زده کړې سياستونه" (کابل: د افغانستان د تحليګرانو شبکه شبکه، ۲۰۱۰)؛ رُد نوردلند، "په زده کړې کې د پرمختګ سره سره، افغاني ښوونځۍ ويرجنه ښکاري،" *نيويارک ټايمز* د ۲۰۱۰ کال د جولاې ۰۲، (د ۲۰۱۳ کال د مې په لومړۍ نېټه د لاس ته رسيدنې وړ). http://www.nytimes.com/2013/07/21/world/asia/despite-education-advances-a-host-of-afghan-school-woes.html?_r=0

۲ د بيلګې په توګه د معيد يوسف، "په پاکستان کې د ځوانانو د بنسټ پالنې راتلونکي ته يوه کتنه" (څېړونکي ليکنه، بروکينګس، ۲۰۰۸) .http://www.brookings.edu/~/media/research/files/papers/2008/10/pakistan%20yusuf/10_pakistan_yusuf.pdf

۳ انتونيو جيستازى، "د ملاتړ او بغاوت تر مينځ په افغانستان کې د زده کوونکو سياسي فعاليتونه" (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۰) //:http www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1004E-Between%20Patronage%20and%20Rebellion%20-%20Student%20Politics%20in%20 Afghanistan%20BP%202010.pdf همدا ډول د رابرت زمان او عبدالاحد محمدي، "په افغانستان کې د پوهنتون په چاپيريال کې د زده کوونکو د بنسټپال کيدو تمايل" (کابل: د استراتيژيکو مطالعاتو افغاني انستيتوت، ۲۰۱۴) http://aiss.af/images/pdf/Trends%20in%20Student%20Radicalization%20 across%20University%20Campuses%20in%20Afghanistan1.pdf

۴ د افراطي دلو لکه حزب التحرير د ډيريدونکو اغيزو په هکله د برهان عثمان، "آيا افغان ځوانان د ديموکراسي پلوي کوي؟ د هغوى ټول نه" (برلين: د افغانستان د تحليګرانو شبکه شبکه، ۲۰۱۴) /https://www.afghanistan-analysts.org/afghan-youth-for-democracy-not-all-of-them په ټوليزه توګه د افغان ځوانانو سياست په باره کې ، د ګران هيواد او کيسي ګارت جانسن، "د افغان ځوانانو د سياست په اړه يو زيرلارښود "و ګورئ (واشنګتن: USIP، ۲۰۱۴) http://www.usip.org/sites/default/files/SR344-A-Rough-Guide-to-Afghan-Youth-Politics.pdf ميسم واحدى، "په افغانستان کې ځوان سياسي فعاليت" (کابل: د هاينريش بويل بنسټ، ۲۰۱۴) https://www.boell.de/sites/default/files/youth_political_activism.pdf

# ۲.  میتودولوژي

هغه میتودولوژي چې د دې ریپوټ په بشپړولو کې ورڅخه کار اخیستل شوی له ښوونکو، زده کوونکو، او سیاسي فعالینو سره مرکې دي. مونږ په ۱۱ ولایتونو کې له ۴۲ زده کوونکو فعالینو، دوو دپاخه عمر فعالینو او ۲۲ ښوونکو، چې ټول یې ۷۴ کسان کېږي، مرکې کړې دي. د سروې د موندنو پر بنسټ، له سیاسي ډلو څخه فعالین تشخیص شول او د هغوی د ښکېلتیا او انګیزو په اړه ورسره مرکې وشوې. نوموړې مرکې د جغرافیې او موقعیت پر اساس په آګاهانه توګه (له سروې څخه د پېژندل شوو کسانو د ښه والي پربنسټ) ټاکل شوې وې. په دې توګه، د مرکو نوموړی ویش اټکلي وو، د مثال په توګه په ځینې ولایتونو لکه بلخ کې زموږ ټاکلي بیلګې ډیرې وې. داهم ثابته شوه چې په ځینو ډیرو جګړه ځپلو ولایتونو کې له زده کوونکو فعالینو سره مرکې له ستونزو څخه ډکې وې، نوځکه د څیړنې ډلې ښه وګڼله چې په بدل کې ئې له ښوونکو سره مرکه وکړي. د ولایت پر اساس د مرکه شوو کسانو دقیق او پر ځاي ویش په لاندني لومړي جدول کې ښودل شوی دی.

لومړی جدول: د ولایت او ډول پر اساس مرکه ورکوونکي

| | زده کوونکي | ښوونکي |
|---|---|---|
| بلخ | ۱۸ | ۰ |
| کابل | ۱۲ | ۰ |
| لوګر | ۱ | ۱ |
| بغلان | ۲ | ۰ |
| کندز | ۲ | ۰ |
| پروان | ۴ | ۳ |
| پکتیا | ۰ | ۷ |
| کاپیسا | ۰ | ۳ |
| ننګرهار | ۱ | ۸ |
| غزنی | ۰ | ۲ |
| لغمان | ۰ | ۱ |
| زابل | ۰ | ۱ |
| وردګ | ۱ | ۰ |
| ټول | ۴۲ | ۲۵ |

هغه افغان څېړونکي چې د دې کار لپاره ګومارل شوي وو په نا امنه سیمو کې یې د کارکولو پراخې تجربې درلودې او پخوا یې هم په جګړه ییزو سیمو کې په څېړنیزو هڅو کې برخه اخیستې وه. هغوی دا وړتیا درلوده چې جګړه ځپل شویو ساحو ته چې زموږ څېړنې ترسره شوې، په نسبي آسانۍ سره سفر وکړي.

# ۳. په ټولګي کې د سیاست په اړه د پوهنې د وزارت دریځ

## ۳.۱ بندیز او د هغه تطبیق

په لوړو ښونځیوکې د سیاست کولو په اړه د افغان حکومت پالیسي تر یوې کچې په هېواد کې د ۱۹۷۰، ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ کلونو د استبدادي او مطلقه واکونو میراث ده چې اکثره سیاسي ګوندونو ته تړاو ورکول کیږي. پخواني ولسمشر کرزي څوځلې له پوهنتونونو څخه وغوښتل چې له سیاسي ګوندونو څخه ځان وساتي[5]. په دې توګه ویلای شو چې سیاسي فعالیت په رسمي توګه د افغانستان په لوړو ښوونځیو کې غیر قانوني ګڼل کېږي. په اصولو کې، هغه زده کوونکي چې بندیز ماتوي کیدای شي چې له ښوونځي څخه وایستل شي. د څېړنې ډلې ته په ځینو ځایونو کې د ځینو زده کوونکو په اړه چې د نوموړي بندیز د ماتولو له کبله سزا ورکړل شوي وه، معلومات ورکړل شوي دي:

*زه فکر کوم چې تېر کال یو سړی زموږ د ښوونځي د مدیر له خوا ونیول شو. هغه د کوم ګوند فعال وو او د خپلو سیاسي فعالیتونو له کبله وپیژندل شو. هغه هڅه کوله زده کوونکي د کومې موضوع په اړه وپاروي او مظاهرې ته یې وهڅوي. زموږ مدیر هغه سړی حکومت ته تسلیم کړ او زه نه پوهیږم چې له هغه سره وروسته څه چلند وشو. زه سوچ کوم چې اوس خلک خپل سیاسي فعالیت په ډیره پټه توګه تر سره کوي. له نېکه مرغه، هېڅوک زما د ښوونکو په شمول زما په اړه په څه نه پوهیږي[۱۲ ، د روند سبز فعال، کابل].*

*تیر کال، له یوې سیاسي ډلې څخه یو څوک د یوه ښوونکي له خوا ونیول شو. زه نه پوهیږم چې هغه په کوم ګوند پورې اړه لرله. زمونږ ښوونځي نوموړی سړی د پوهنې وزارت ته وسپاره، او بیا ؤ نه لیدل شو. ما نور د هغه په اړه څه اوریدلي نه دي. زه فکر کوم چې هغه به بې کوم بل ښوونځي ته لیږلی وي له نوموړي څخه پرته کوم بل څوک نه پیژنم چې د سیاسي فعالیت له کبله نیول شوی وي[۱۲ د وحدت ډلې فعال، کابل]*

په ډیرو مواردو کې داسې کسانو ته ساده سزا ورکول کیږی[۲۲، د تحریر ګوند فعال، بغلان].کله چې ډیر ټینګ اقدام هم وشي او د دا ډول اشخاصو په اړه پولیس یا د ملي امنیت ریاست(NDS) ته معلومات ورکړل شي، داسې څرګندیږي چې د هغوی اغېزه هم لږ او محدوده ده (دویم جدول هم ووینئ):

*ځینی ښوونکي او زده کوونکي په ځینو ښوونځیو کې زموږ له کړنو سره مخالف دي، خو ښوونکي، حکومت او امریکائیان زمونږ مخه نیولای نشي. ځینې ښونځیو پولیسو او د استخباراتو ادارو ته شکایت کړی ده. هغوی خپل پلټونکي ګمارلي دي چې زمونږ فعالین تعقیب کړي، خو دا ډیر پخوا وو. زموږ فعالین اوس د خپلو فعالیتونو او مسلمانو ورونو د جلب او جذب لپاره نورو ولایتونو ته تللي دي.[۳۶ ، د تحریر ګوند فعال،کابل]*

هغه فعال چې پورته یې خبرې راخیستل شوې دي مازې یو باټو نه وو. د ډېرو مرکه شوو ښوونکو په خبره د پوهنې وزارت (MoE) هڅې چې سیاست له ټولګیو څخه بهر وساتي په پوره توګه بې اغېزې دي.

*د پوهنې وزارت خپلو ټولو ولایتي څانګو ته سپارښتنه کړې چې په ښوونځیو کې زده کوونکي له سیاسي فعالیتونو څخه منع کړي. موږ ډلره هڅه کوو، خو اغیزه نه لري.[۲۴ ، ښوونکی، پروان]*

*د پوهنې وزارت په ښوونځیو کې سیاسي فعالیت منع کړی دی، خو د ښوونځیو مدیران یې کنټرول نه کوي[۲۵ ، ښوونکی، جلال آباد]*

*د پوهنی وزارت په ولایتونو کې د پوهنې ټولو څانګو ته لیک استولی ده چې په ښوونځیو کې سیاسي فعالیتونه بند دي. خو بیا هم دا په مدیرانو پورې اړه لري چې څنګه هغه عملي کوي. په ولسوالیو کې ډیری ښوونځي آزاد دي چې په سیاسي فعالیتونو کې ښکیل وي[۵۵ ، ښوونکی، جلال آباد ، ۵۹ ښوونکی، پکتیا ، ۵۸ ښوونکی، ننګرهار؛ ۵۲ ، ښوونکی، مزار].*

د ۴۲ مرکه شوو زده کوونکو څلورمې برخې باور درلود چې د پوهنې وزارت مامورین د دوی په سیاسي فعالیتونو خبر دي، خو په هر لامل چې ده نه غواړي له دوی سره مخالفت وکړي(دویم جدول).

5 ډیلي اوټلوک افغانستان، "د کرزی له خوا په سیاست کې د زده کوونکو د ښکیلتیا د منع کولو په باره کې"، د جون ۲۸، ۲۰۱۲ کال، http://outlookafghanistan.net/editorialdetail.php?post_id=4743#sthash.gO33USwV.dp (د ۲۰۱۵ کال د مې د میاشتې په لومړی نیټې د لاس موندنې وړ).

دویم جدول: د لوړو ښوونځیو د مرکه شوو زده کوونکو د معلوماتو پر بنسټ، په لوړو ښوونځیو کې د سیاسي فعالیت په هکله د پوهنې وزارت د مامورینو پوهیدل او دریځ

| | هو | |
|---|---|---|
| | سلنه | شمېر |
| ۱. د ښوونځي مامورین چې خبر دي | ۳۹.۱ | ۱۸ |
| مخالف | ۱۰.۹ | ۵ |
| خبر دي خو مخالفت نه کوي | ۲۲.۱ | ۱۲ |
| نه غبر گون(نه ځواب) | ۲.۱ | ۱ |
| ۲. د ښوونځي مامورین چې خبر نه دي | ۲۰.۹ | ۲۷ |
| ټول | ۱۰۰.۰ | ۴۲ |

دا پوښتنه پر ځای پاتې کیږي چې آیا د پوهنې وزارت نشي کولای دغه بندیز عملي کړی یا داچې د تطبیق اراده یې نه لري. ځینې مرکه ورکوونکو دې خبرې ته اشاره وکړه چې سیاسي ګوندونه ددې ممانعت کوي چې په لوړو ښوونځیو کې د سیاسي فعالینو په وړاندې سخت دریځ غوره کړي:

> *د پوهنې وزارت خبرتیا ورکړې ده چې سیاسي فعالیتونه په ښوونځیو کې جواز نه لري. خو زورور کسان په دې قانون کې مداخله کوي، او هغوی دې چې زده کوونکو ته فرصت برابروي چې سیاسي فعالیتونه تر سره کړي. د پوهنې وزارت له زورورو کسانو سره یو ځای ټکې برګې کوي. [۷۱ ، ښوونکی، پکتیا].*

په هر حال، که چېرې د دې سروې موندنې یوې خواته پرېږدو (لومړی شکل، ۱ الف، ۱ ب، ۲ الف، ۲ ب ضمیمه جدولونه ووینئ]، ۲۲ مرکه شوي ښوونکي مني چې په ښوونځیو کې د سیاسي فعالیتونو کچه ورځ په ورځ ډېریږي. هغوی، همدا ډول مني چې نوموړو فعالیتونو کې د اسلامي ګوندونو او ډلو ونډه مخ په زیاتېدو ده (دریم جدول او ضمیمه جدولونه ۳-۹ پورې وګورئ).

دریم جدول: د مرکه شوو ښوونکود معلوماتو پر اساس هغه ګوندونه او تشکیلات چې په لوړو ښوونځیو کې فعالیت کوي:

| | سلنه(٪) | شمېر |
|---|---|---|
| طالبان | ۵۷.۷ | ۱۵ |
| حزب التحریر | ۱۱.۵ | ۳ |
| اسلامي ګوند | ۸۰.۸ | ۲۱ |
| اسلامي جمعیت | ۳۴.۶ | ۹ |
| دعوت اسلامي | ۳.۸ | ۱ |
| روند سبز(زرغون بهیر) | ۷.۷ | ۲ |
| د اصلاح جمعیت(جمعیت اصلاح) | ۱۵.۴ | ۴ |
| وحدت | ۳.۸ | ۱ |
| جنبش | ۳.۸ | ۱ |
| ملي تحریک | ۲۳.۱ | ۶ |
| مدني ټولنه | ۳۴.۶ | ۹ |
| مذهبي تشکیلات | ۱۵.۴ | ۴ |
| د ښځو حقونه | ۳۸.۵ | ۱۰ |
| افغان ملت | ۱۹.۲ | ۵ |
| سلفیان | ۳.۸ | ۱ |
| ټول | ۱۰۰.۰ | ۲۶ |

هېڅ ښوونکي په ښکاره توګه د داسې تمایلاتو له شته والي انکار و نه کړ، که څه هم شاوخوا څلورمې برخې پوښتنو ته یې ځواب ورنه کړ او یا یې رانه ځوابونه و نه ویل (۴ جدول).

څلورم جدول: د مرکه شوو ښوونکو د معلوماتو پر بنسټ په ښوونځیو کې سیاسي فعالیتونه

| | سلنه (٪) | شمېر |
|---|---|---|
| ډیریدونکی سیاسي فعالیت؟ | ۷۲.۹ | ۲۰ |
| سیاسي فعالیت په ډیریدونکي توګه د سیاسي اسلام له خوا انحصار شوی دی؟ | ۷۳.۱ | ۱۹ |
| ټول | ۱۰۰.۰ | ۳۲ |

سروې روښانه کړه چې د لیبرال، چپي، او دیموکراتیکو ګوندونو فعالین د لوړو ښوونځیو د زده کوونکو په منځ کې د اسلامي او اسلامي بنسټپالو ډلو پر خلاف چې د هېواد په ځینو برخوکې ډیرې ژورې ریښې لري، ډېر لږ معلومیږي. په حقیقت کې، داسې ښکاري چې نوموړي بندیز ددې لامل شوی ده چې د افرطی ډلو په پرتله چې په خپله لار کې تهدیدونو ته لږ اهمیت ورکوي، معتدل قوتونه د زده کوونکو په منځ کې لږ فعال دي. د طالبانو[۲] فعال زده کوونکي په څرګند ډول ادعا کوي چې لږ تر لږه په ځینو سیمو کې، طالبان د پوهنې وزارت هغه مامورین ګوابني چې هڅه کوي په ښوونځیو کې د فعالینو د فعالیت مخنیوی وکړي:

*یو وخت زموږ د ښوونځي مدیر د بټیکوټ ولسوالی(د ننګرهار ولایت) ته زموږ په اړه شکایت وکړ. موږ د هغه کورته ولاړو او ډېر سخت مو وواهه او د هغه د کورور مو والوزاوه، او هغه ته مو خبرداري ورکړه چې بیا پولیسو سره اړیکه و نه نیسي. له هغه وروسته، زموږ مدیر هیڅکله له پولیس سره زموږ په اړه اړیکه ؤ نه نیوله.[۷۳، د طالبانو فعال، ننګرهار؛ ۷۲ ، د طالبانو فعال، دایچوپان/زابل]*

په ښوونځیو کې د سیاسي فعالیت له بندیز سره سره، له هغو ښوونکو سره چې دې پروژې لپاره ورسره مرکه شوې، وویل چې په ښوونځیو کې د سیاسي فعالیت د لید وړ هڅې شتون لري. په دې توګه، د هغوی معلومات د دې سروې له موندنو سره یوشان وو. نژدې ټولو مرکه شوو ښوونکو (۹۲.۳ سلنه) د سیاسي بحثونو د شتون په اړه معلومات وړاندې کړل. نوموړو ښوونکو د نشریو د وېشلو، غونډې جوړولو، او په دیوالونو باندې د لیکلو په اړه هم معلومات شریک کړل. سیاسي ډلو ته د جلب او جذب په اړه ډېرو رڼو معلوماتو وجود نه درلود خو د ښوونکو ۱۹.۲ سلنې په دې باره کې هم معلومات درلودل. اعتراضونه او مظاهرې لکه چې وویل شول، د افغانستان په ښوونځیو کې لږ دي، دا خبره د ښوونکو له خوا هم تائید شوه. ښايي، نوموړې پایلې د سروې له معلوماتو سره توپیر ولري؛ د بېلګې په توګه، د جذب او جلب په اړه، سروې ډېره لوړه سلنه ښیي چې د ځواب ورکوونکو له خوا د هغوی په ښوونځیو کې صورت مومي(۵۲.۳ سلنه، د ۱۹.۲ سلنې په مقابل کې). دغه توپیر په آسانی سره داسې توضیح کیږي چې ښوونکي د هغه څه په اړه چې د زده کوونکو ترمنځ تیریږي، لږ معلومات لري. په حقیقت کې، هغه زده کوونکي فعالین چې مرکه ورسره شوې، د جذب او جلب په اړه، د سروې د پایلو په پرتله، ډېره لوړه سلنه وړاندې کړې ده. تر ټولو مهمه خبره داده چې زده کوونکو جلب او جذب ډېر عام فعالیت وښود چې ۲۹.۷ سلنه ښکاروي چې وروسته له سیاسي بحثونو ډېرهلویه شمېره ده، البته زده کوونکي د خپلو فعالیتونو په اړه ښه قضاوت کولای شي.(پنځم جدول).

پنځم جدول: د مرکه شوو زده کوونکو فعالینو د معلوماتو پر اساس د سیاسي فعالیت ډولونه(څو ځلیزو پوښتنو ته اجازه وه).

| | ټول | غیرقانوني | قانوني، د حکومت ضد | قانوني، حکومت پلوه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ٪ | شمېر | ٪ | شمېر | ٪ | شمېر | ٪ | شمېر |
| جلب او جذب | ۲۹.۲ | ۳۲ | ۷۵.۰ | ۹ | ۷۰.۰ | ۷ | ۲۲.۷ | ۱۲ |
| د نشریاتو وېشل | ۳۷.۰ | ۱۷ | ۲۵.۰ | ۳ | ۷۰.۰ | ۷ | ۲۹.۲ | ۷ |
| غونډې | ۲۹.۲ | ۳۲ | ۲۲.۷ | ۸ | ۹۰.۰ | ۹ | ۲۲.۵ | ۱۵ |
| اعتراضونه | ۱۷.۴ | ۸ | ۱۲.۷ | ۲ | ۴۰.۰ | ۴ | ۸.۳ | ۲ |
| بحثونه | ۹۱.۳ | ۴۲ | ۹۱.۷ | ۱۱ | ۱۰۰.۰ | ۱۰ | ۸۷.۵ | ۲۱ |
| په دیوالونو لیکل | ۴۱.۳ | ۱۹ | ۴۱.۷ | ۵ | ۲۰.۰ | ۲ | ۳۳.۳ | ۸ |
| ښوونکو ته اخطار ورکول | ۲۸.۳ | ۱۳ | ۴۱.۷ | ۵ | ۵۰.۰ | ۵ | ۱۲.۵ | ۳ |
| ټول | | ۴۲ | | ۱۲ | | ۱۰ | | ۲۴ |

[۲] هغوی خپل ځان د افغانستان د اسلامی امارت په نوم یادوي چې په ۲۰۰۱ کال کې د امریکائیانو له خوا د نسکور شوي حکومت د ادامې په معنا ده. هغوی په نن ورځې افغانستان کې تر ټولو لوي شورشي خوځښت دی چې د سیاسي تحریک ځینی ځانګړتیاوي یې هم پیدا کړي دي او د نورو هڅو تر څنګ یې د لوړو ښوونځیو د زده کوونکو جلب او جذب هم پیل کړی دی.

پر ځای ده وویل شي چې په لوړو ښوونځیو کې د سیاسي فعالیت د ظاهري بڼو د لیدلو ترڅنګ، مرکه شوو ښوونکو څرګنده کړه چې د طالبانو او حزب التحریر[۷] غړي په خپلو ښوونځیو کې فعال دي، د ښوونکو ۸۰،۸ سلنې ویل چې اسلامي ګوند[۸] هم په ښوونځیو کې فعال دی، خو دا معلومه نه شوه چې د هغوی منظور د اسلامي ګوند له قانوني برخې یا جګړه کوونکې څانګې څخه وو(شپږم جدول وګورئ). سروې په عین حال کې په ښوونځیو کې د افراطي او غیر قانوني ډلو د لوړې کچې د فعالیت په اړه هم معلومات وړاندې کړې دي(۳-۴ ضمیمه جدولونه ووینئ).

شپږم جدول: په لوړو ښوونځیو کې د سیاسي فعالیتونو ډولونه چې د مرکه شوو ښوونکو له خوا لیدل شوي دي.

| | سلنه (٪) | شمېر |
|---|---|---|
| جلب او جذب | ۱۹.۲ | ۵ |
| د نشریو ویش | ۵۷.۷ | ۱۵ |
| غونډې | ۵۳.۸ | ۱۴ |
| اعتراضونه | ۱۱.۵ | ۳ |
| بحثونه | ۹۲.۳ | ۲۴ |
| په دیوالونو لیکل | ۳۰.۸ | ۸ |
| د ښوونکو ګواښل | ۲۳.۱ | ۶ |
| ټول | ۱۰۰.۰ | ۲۶ |

## ۳.۲ توپیري چلند (تبعیض)

لکه چې پورته وویل شول، یوډول ټولیزه ډېره کول داده چې د سیاسي ګوندونو تاسیس پخپله له سیاست څخه د لوړو ښوونځیو ژغورل کمزوري کوي. په حقیقت کې، له زده کوونکو فعالینو سره مرکو څرګنده کړه چې هغه زده کوونکي چې له لویو ګوندونو سره اړیکې لري په خپلو فعالیتونو کې د زغم د لوېې کچې خاوندان دي، او د پایلې په توګه، هغوی په نسبتي ډول د خپلو پټو تشکیلاتو د ملګرو په پرتله، د څرګندېدلو او پېژندل کېدو پروا نه کوي. دا هغه څه دي چې یوه پټ فعال څرګند کړل:

> *داسې ډېر زده کوونکي شته چې د سیاسي ډلو لکه جنبش، اسلامي ګوند، جمعیت، ملی محاذ[۹] او نورو ډلو غړي دي، ځکه چې د هغوی ګوندونه له افغان حکومت سره ثبت او لارښوونکي یې په افغانستان کې د زور خاوندان دي، نو په ښکاره توګه نورو زده کوونکو ته وایي چې له دغه یا هغه ګوند سره اړیکې لري، خو موږ دا کار کولای نشو. په خواشینۍ سره چې د افغانستان خلک سوچ کوي چې حزب التحریر هم د طالبانو په څېر یو تهدید دی، او د حکومت ډېر خلک زموږ خوځښت نه خوښوي. له همدې کبله موږ خپل فعالیتونه په پټه ترسره کوو[۲۱ د تحریر غړی، مزار شریف].*

۷ حزب التحریر چې په لومړي سر کې په ۱۹۵۳ کال کې په فلسطین کې راپیدا شو، څو کاله پخوا په افغانستان کې رامنځ ته شو. د دې ډلې سیمه ییز شتون روښانه نه دی، خو احتمال لري چې رامنځته کېدل یې په منځنۍ آسیا او پاکستان کې، چېرته چې دا ګوند ډېر فعال دی، د فعالینو له خوا حمایه شوی وي. د نوموړي ګوند پټ خصوصیت ته په کتو سره، د دغه ګوند په اړه لږ معلومات شته، خو داسې معلومېږي چې نوموړي ګوند خپل فعالیتونه د افغانستان په شمال ختیز کې پیل کړي او وروسته یې د کابل د سیمې په شمول نورو ولایتونو ته غځولي دي. نوموړی ګوند د ژر پېښېدونکي محشر په هکله تبلیغ کوي او له مسلمانانو څخه غواړي چې خلافت بیا راژوندی کړي او د قیامت د ورځې لپاره ځانونه چمتو کړي.

۸ اسلامي ګوند وروسته تر دې چې په ۱۹۷۹ کال کې له اسلامي جمعیت څخه جلا شو، د ۱۹۸۰، او ۱۹۹۰ کلونو په جریان کې د اسلامي جمعیت په عمده سیالي کوونکي واوښت. له دې سره سره چې دواړه د زده کوونکو د خوځښت په دوران کې د اخوان المسلمین ګډې ریښې لري، خو حزب او جمعیت ډېر ځلې له یو بل سره په جګړو کې چې ځینې وخت ډېرې ترخې هم وې، اخته وې. اسلامی ګوند په ټولنیزه توګه د خوځښت ډېر افراطي وزر(اړخ) شمیرل کېږي، او له ۱۹۹۰ کلونو راهیسې یې په عمده ډول د ختیزو پښتنو په مینځ کې نفوذ کړی دی(په داسې حال کې چې جمعیت په زیاتېدونکې توګه په تاجکانو باندې تکیه او باور کړی دی). له ۲۰۰۵ کال څخه را په دې خوا اسلامي ګوند په رسمي توګه په دوو برخو وویشل شو: یوه برخه ئې له قانون سره سم په کابل کې له صلاحیت لرونکو مراجعو سره ثبت ده چې په تولټاکنو کې یې برخه اخیستې ده. او پارلمان ته یې څو څو غړي ټاکل شوي دي. بله برخه یې تر اوسه هم په افغانستان کې د غربي ځواکونو د حضور په وړاندې په وسله واله جګړه کې ښکیل ده. د دغه ګوند پخوانی لارښوونکی ګلبدین حکمتیار د شورشي برخې د لارښودونکي په توګه پاته شوی ده. د نوموړي ګوند واړه برخې د ځوانانو سازمانونه لري چې د فعالیتونو په وخت کې ئې یو بل څخه توپیر نه کېږي او یو ځای فعالیتونه تر سره کوي.

۹ نوموړی ګوند چې په ۱۹۷۹ کال کې د پیر ګیلاني له خوا تاسیس شوی ده په عمده توګه د ګیلاني د قادریه صوفي طریقې له ملاتړ څخه برخمن دی. په دې مفهوم ښایي هغه یو مذهبي ګوند وشمیرل شي، که څه هم په عام ډول د نوموړي ګوند پیغامونه نیشنالیستی دي او مذهبی بڼه نه لري. دغه ګوند د ۱۹۸۰ کلونو د مقاومت په خوځښتونو کې د سلطنت پلوه تشکیل په توګه فعالیت درلود، خو په ۱۹۹۰ کلونو کې یې د خپل پخوانی دریځ لږ پلوي کوله. نوموړی ګوند ته د بن وروسته توافق کې د کرزي او د هغه د نړیوالو ملاتړو په غوښتنه ددې لپاره ځای ورکړل شو چې ګویا د هغو ګوندونو له تفوق او پورته والي سره چې د غیر پښتنو په مینځ کې جوړ شوي دي، د پښتنو د استازي په توګه، توازن برابر شي.

نوموړې څرګندونې په حقیقت کې د نورو په کتار کې د اسلامي جمعیت[۱۰] او ملي جنبش[۱۱] د فعالینو له خوا هم تایید شوې:

*زما ښوونکي پوهیږي چې موږ د ټولنې د ښېګڼې لپاره کار کوو. هغوی پوهیږي چې موږ د پرمختګ او سمون په لټه کې یاستو. هغوی تر اوسه زمونږ په وړاندې کومه ستونزه رامینځ ته کړې نه ده. تیر کال، موږ یو ښوونکی درلود چې نوی زموږ په ښوونځی کې مقرر شوی وو. هغه تېنګار کاوه چې موږ باید خپل فعالیتونه ودروو، هغه موږ ته ویل چې هغه څه چې تاسې کوئ غیر قانوني دي، خو نورو ښوونکو نوموړي ته بل ډول قناعت ورکړ. اوس موږ کومه ستونزه نه لرو، حتی زموږ ښوونکي موږ سره مرسته کوي[۹، د جنبش فعال، مزار شریف].*

*د ښوونځی کارکوونکي پوهیږي چې موږ د جنبش ګوند ته کار کوو، خو هغوی له موږ سره کومه ستونزه نه لري. هغوی حتی خوشاله دي چې موږ زده کوونکی پوهنیزو زده کړو او کورسونو کې د شمول لپاره رابلو او هڅوو یې. [۱، د جنبش غړی، مزار شریف].*

ارزښت لري چې په مزار کې د جمعیتي زده کوونکي خبرې چې پورته را نقل شوې په کابل کې له بل جمعیتي زده کوونکي سره پرتله کړو:

*هو، زه څو ځلې د ښوونځي د مامورینو له خوا رټل شوی یم. هغوی نه پوهیږي چې موږ د ټولنې په ګټه کار کوو، هغوی نه پوهیږي چې موږ د فساد پر ضد هم یاستو. په ټولیزه توګه، موږ خپل فعالیتونه په ښکاره ترسره کولای نشو. موږ خپل فعالیتونه په پټه ترسره کوو. موږ نه غواړو چې هغوی خبر شي[۱۳، جمعیتي فعال، کابل].*

له پورتنیو دوو اقتباس شوو خبرو څخه داسې معلومیږي چې ګویا لږ تر لږه په شمال کې (جمعیت اسلامي) د قوي محلي حضور لرونکو ګوندونو لپاره، مساعد چاپېریال شته. سره له دې چې زموږ ښېلګه ییزې مرکې په شمېر کې لږ وې، خو د مرکه شوو ځوابونه د پورتني نظر څخه ملاتړ نه کوي. د نورو هغو ډلو ترمنځ توپیر چې په شمال کې محلي قوي حضور لري (جنبش او وحدت) مهم نه برېښي، او د محلي کمزورو ریښو لرونکي ګوندونه هم څرګندوي چې د مساعد چاپیریال څخه برخمن دي (اووم جدول ووینئ). په هر حال، جمعیتي زده کوونکي د کابل د چاپېریال په پرتله د مزار چاپېریال ډېر مساعد ګڼي. سره له دې، د کابل په بېلګه کې د جمعیت له یوازې دوو فعالینو سره مرکه شوي ده او داشمېره د هر ډول پایلې د اخیستلو لپاره ډېر لږ ښکاري.

اووم جدول: د سیاسي ګوندونو د ډول او د لوړو ښوونځیو مرکه شوو زده کوونکو د معلوماتو پر اساس د کابل او مزار شریف په ښوونځیو کې د سیاسي فعالیتونو په وړاندې د پوهنې د وزارت د مامورینو او مسئولینو دریځ.

| مزار | جمعیت | ټول نور ګوندونه | ټولې ډلې چې په شمال کې قوي ریښې لري | ټولې ډلې چې په شمال کې قوي ریښې نه لري |
|---|---|---|---|---|
| د ښوونځي خبر شوي کارکوونکي | ٪۷۵.۰ | ٪ ۵۰.۰ | ٪۷۰.۰ | ٪۱۲.۲ |
| د ښوونځی کارکوونکي چې دسیاست کولو سره مخالف دي | ٪۰.۰ | ٪ ۳۳.۳ | ٪ ۲۰.۰ | ٪ ۳۳.۳ |
| شمېر | ۴ | ۱۲ | ۱۰ | ۲ |
| | | | | |
| کابل | جمعیت | نورګوندونه | ټولې شمالي ډلې | ټولې غیر شمالي ډلې |
| د ښوونځي هغه کارکوونکي چې خبر دي | ٪۱۰۰.۰ | ٪ ۳۰.۰ | ۴۰.۰ سلنه | ٪ ۴۲.۹ |
| د ښوونځي کارکوونکي چې په ښوونځي کې د سیاست له کولو سره مخالف دي | ٪ ۵۰.۰ | ٪ ۴۰.۰ | ٪ ۲۰.۰ | ٪ ۵۷.۱ |
| شمېر | ۲ | ۱۰ | ۵ | ۷ |

۱۰ په افغانستان کې په ۱۹۷۰ کلونو کې د مسلمانو ځوانانو (جوانان مسلمان) ډلو د لومړي عمده معتدل اسلامي ګوند په توګه رامنځ ته شو. نوموړی ګوند د چپي رژیم وروسته د ۱۹۹۰ کلونو په کورنۍ جګړو کې خورا ډېره فعاله ونډه درلوده او د متحده ایالاتو په ملاتړ یې د طالبانو حکومت را نسکور کړ. د اسلامي جمعیت استازي په افغانستان کې د طالبانو وروسته حکومت د جوړولو په مذاکراتو کې لویه برخه درلوده او له ۲۰۰۱ کال راهیسې ئې ډېرو غړو په هره کابینه کې د لوی ویش خاوندان دي که څه هم هغوی ځینې وخت لوی موقفونه او ځینی وخت وړې څوکۍ په لاس کې لري، خو په عمومي توګه دا خبره جوته ده چې اسلامي جمعیت په سیاسي جوړښت او حکومت کې غټه برخه درلودلې ده. دغه ګوند په پارلمان کې هم لوی استازیتوب لري او د ۲۰۱۴ کال په ټولټاکنو کې یې عبدالله نوماند وو.

۱۱ نوموړی ګوند په ۱۹۹۲ کال کې د جنرال دوستم له خوا په کمونیست وروسته حکومت کې ونډې درلودلو د لوړغوښتنې لپاره جوړ شو، دا ګوند د ۱۹۹۰ کلونو په کورنۍ جګړو کې لویه ونډه درلوده او په ۲۰۰۱ کال کې یې د طالبانو د رژیم د را پرزولو لپاره د لیډ وړ نظامي ونډه ادا کړه. یاد شوي ګوند د ۲۰۰۲-۲۰۰۴ کلونو د څوکیو تالان، ولجه کولو او ویش کې غټه برخه لرله، خو وروسته له اسلامي جمعیت سره د دښمنی په وجه په ډېریدونکي توګه ځنډې ته شو. په ۲۰۱۴ کال کې د ولسمشر د مرستیال په توګه د دوستم ټاکل کېدل د هغه د ګوند اهمیت بیا راژوندی کړ او یو ځل بیا د حکومت د یوې برخې په توګه وپېژندل شو. دغه ګوند په عمده توګه د افغانستان د شمال لویدیز د ازبکو لږه کې په منځ او تر یوې کچې د شمال ختیز په ازبکانو کې نفوذ لري.

له ځينې سياسي ګوندونو سره تړاو چې د حاکميت يوه برخه جوړوي، د ځانګړو ډلو د فعاليت پر وړاندې د زغم درلودلو لپاره لا ښه توضيح ګڼل کيږي. دا خبره د کوچني قانوني ثبت شوي ګوند د فعالينو له خوا هم تائيد شوې ده[12]، چې د پوهنې د وزارت له خوا د هغوی د ګوند د فعاليتونو د زغم په اړه باوري نه وو:

*دا موضوع فرق لري. ځينې وختونه کله چې زه د روند سبز ګوند موخې زده کوونکو ته توضيح کوم، هغوی زموږ د ګوند له سياسي نظريو سره علاقه پيدا کوي، خو نه غواړي چې په هغه کې ښکيل شي. زما منظور داده چې هغوی نه غواړي زموږ له ګوند سره يو ځای شي، هغوی موږ ته يوازې خپله علاقه ښيي. ځيني نه غواړي له موږ سره يو ځای شي او ادعا کوي چې دا کار غير قانوني دی[۱۰ ، د روند سبز فعال، کابل].*

*زده کوونکي زموږ د ګوند سياسي نظريې خوښوي، خو نه غواړي له موږ سره يو ځای شي ځکه چې له حکومت څخه ويريږي او نه غواړي چې د حکومت له خوا ونيول شي[۷ ، د روند سبز فعال، کابل].*

يوه جلا خو اړونده لانجه د تعليمي نصابو محتوی ده چې په ځينو برخو کې د بحث وړ ګڼل کيږي. يوه زده کوونکی فعال ټينګار کاوه چې دغه پربکړه چې ښوونکي بايد په ښوونځيو کې له سياسي فعاليتونو څخه مخنيوی وکړي، پخپله سياسي عمل دی:

*ښوونکي هم د افغان استخباراتي ادارې د اسلامی فعاليتونو ضد موخو په عملي کولو کې ښکيل دي. ښوونکي تل هڅه کوي چې زده کوونکي له واقعي او ښې مسلمانی څخه ليرې وساتي، او په دې توګه د جمعيت اصلاح له خوځښت سره د هغوی د يو ځای کيدلو مخنيوی کوي[۴۸ ، د اصلاح د جمعيت فعال، کابل، همدا ډول ۲۰ ، د اصلاح د جمعيت فعال، کابل].*

## ۳.۳ ښوونکي او سياسي فعاليتونه

د پوهنې په وزارت کې د سياسي فعاليتونو د بندولو په پاليسی کې ډېر بد تناقض هغه وخت لا ښه څرګنديږي چې ښوونکي پخپله د سياسي ګوندونو په پلوي او د (زده کوونکو) د نظريو په بدلون کې ښکېل وي[13]. که څه هم د مرکه شوو ډېرکيو (اکثريت) له سياسي پلوه د فعالو ښوونکو د نښو نښانو له ليدلو څخه انکار کاوه، په څو مواردو کې، مرکه کوونکو ته اعتراف وشو چې د ښوونکو ډله په فعاله توګه هڅه کوي چې زده کوونکي په سياسي فعاليتونو کې ښکېل شي (اتم او نهم جدول وګورئ). د ۲۱ مرکه شوو ښوونکو له جملې څخه پنځو نفرو اعتراف کاوه چې ځينې ښوونکي له زده کوونکو سره په سياسي فعاليتونو کې ښکېل دي. لکه چې يوه ښوونکي وويل:

*هو، ما ځينې ښوونکي ليدلي دي چې د ټولټاکنو په کمپاين کې، هم په پارلماني او هم د ولسمشرۍ په ټاکنو کې، د ځانګړو نوماندانو په ګټه کامپاين کړي او هغوی ته يې رايې ورکړي دي[۳۴ ، ښوونکی، ګلبهار، پروان].*

د زده کوونکو په ډله کې هم ډېرو ويل چې له سياسي پلوه فعالو زده کوونکو په هکله يې څه نه دي اورېدلي، خو ځينو زده کوونکو فعالينو داسې اعتراف وکړ:

*ځينې يې همدا اوس د جمعيت لپاره کار کوي. هغوی د يوه سياسي ګوند فعالين دي. خو زه په دې نه پوهيږم چې هغوی هڅه کوي چې زده کوونکي خپلې ډلې ته جلب کړي که څنګه؟ زه نه پوهيږم... زه ويلای نشم چې هغوی ټول په سياست کې ښکيل دي، خو ډېر ملايان يا مذهبي ښوونکي اسلامي جمعيت ته علاقه لري. ځينې يې لا وختنه د دغه ګوند غړيتوب لري. مخکې له دې چې له ياده مې ووزي، بايد ووايم چې زمونږ په ښوونځي کې د تاريخ ښوونکي په سياسي فعاليتونو کې ښکيل دي[۱۴ ، د اسلامي جمعيت فعال، مزار شريف].*

*هو، په ځينو ښوونځيو کې، د ښوونځيو کارکوونکي زمونږ له فعاليتونو څخه خبر دي. ځيني زموږ ملاتړ کوي، خو ډېری يې له هغو کارونو سره چې موږ يې کوو، مخالف دي. هو، داسې ښوونکي شته چې د افغانستان د حکومت لپاره کار کوي، او هغوي پخپله په مختلفو سياسي او قومي ګوندونو کې غړيتوب لري. هغوی ډېر وخت ستونزې جوړوي او زموږ له فعاليتونو سره مخالفت کوي. هغوی د امريکاييانو او صهيونيستانو لپاره کار کوي... موږ د اسلامي مطالعاتو داسې ښوونکي هم لرو چې د اسلامي خلافت او پوهاوي په اړه زموږ له موخې څخه ملاتړ کوي، خو په ښوونځيو کې د ښوونکو ډېره کی (اکثريت) زموږ له موخو سره مخالفت لري. امريکائيان، اروپايان، او صهيونيستان دغو ښوونکو ته تنخا ورکوي، او ډېر احتمال لري تاسو ته هم ددې ځيرنې لپاره پيسې درکړي... [۳۶ ، د تحرير فعال، کابل].*

*ما داسې ښوونکی نه دی ليدلی چې زده کوونکي خپلې سياسي ډلې ته جلب کړي، خو داسې ښوونکی مې ليدلی چې زموږ له مذهبي تبليغاتو څخه ملاتړ کوي[۱۷ ، د اصلاح د جمعيت فعال، کابل]*

۱۲ د ملي امنيت د پخواني مشر، امرالله صالح له خوا، په ۲۰۱۰ کال کې جوړ شوي، روند سبز، د ځوانانو په مينځ کې کار کوي او نفوذ ئې تر لوړې کچې په خلکو کې د صالح په عامه شخصيت پورې، چې اکثره وخت په رسنو کې زا څرګنديږي او بحث پاروونکې څرګندونې کوي، اړه لري. نوموړی ګوند او هغه لاړښوونکي په حکومت باندې ډيرې نيوکې کوي او هغه بې کفايته او بې پروا ګڼي.

۱۳ د پوهنتون د ښوونکو د سياسي فعالينو په هکله د کيسي جانسن راتلونکي ليکنه، واشنګټن، دی.سی وګورئ: USIP، ۲۰۱۵.

*موږ پخپل ښوونځي کې شپږ ښوونکي لرو. زموږ ښوونکو یوه ډله د امیر المومنین په نوم جوړه کړه. هغوي هڅه وکړه چې موږ د طالبانو له جهاد څخه د ملاتړ او د اسلام په هکله قانع کړي، نو ځکه موږ له هغو سره یو ځای شو. ددې خبرې معنا دا ده چې موږ د ښوونکو په مرسته سیاسي فعالیتونه پیل کړل[۷۳، د طالبانو فعال، ننګرهار].*

په ټولیزه توګه، د زده کوونکو فعالینو د مرکه شوو ۱۳ سلنې وویل چې ښوونکي د زده کوونکو د عقیدې په بدلون کې ښکېل دي (چې په ډېرو مواردو کې یې پخپله مرکه شوي زده کوونکي جلب کړي هم دي)، په داسې حال کې چې ۲۰ سلنې څرګنده کړه چې ښوونکي هڅه کوي چې سیاسي نظریې د زده کوونو په ماغزو کې ځای کړي (اتم جدول، د سروې د پایلو لپاره ضمیمه دویم شکل او لسم جدول هم ووینئ). دنورو په پرتله ځانګړې ډول ښوونکي د زده کوونکو د سیاسي عقیدو په بدلون کې ښکېل دي. که څه هم ډېرو مرکه شوو څرګنده نه کړه چې د ښوونکو کومې ډلې په سیاسي فعالیتونو کې ښکېلې وې، خو لکه چې په پورتنیو او لاندې اقتباس شوو خبرو کې ښودل شوې، هغه ملایان چې د مذهبي مضمونونو تدریس یې کاوه د سیاسي عقیدو د ترویج عمده عاملین ګڼل کېدل:

*زما په نظر، ټول ښوونکي په سیاسي فعالیت کې ښکېل دي. دا مهمه نه ده چې هغوی د کومو مضمونونو تدریس کوي. خو ډېری ملایان چې د دیني مضمونونو درس ورکول په غاړه لري په دې خبره کې ښکېل دي ځکه چې هغوي نه غواړي په اسلام کې کوم بد ټکی ووینې، نو هغوي غواړي چې خپل نظریات په زده کوونکو باندې تحمیل کړي[۱۳، د اسلامي جمعیت فعال، کابل].*

*د اسلامي مطالعو د ښوونکو ډېری زموږ په فعالیتونو کې ښکېل او زموږ د فعالیتونو ملاتړ کوي. موږ د افغانستان په لوړو ښوونځیو کې ګڼ شمیر د اسلامي مضمونونو ښوونکي لرو چې د اصلاح د جمعیت لوړ پوړي غړي دي. که داسې نه وای، نو موږ به په خپلو فعالیتونو کې بریالي نه وو[۴۸، د اصلاح د جمعیت فعال].*

په دې اړه سیمه ییز مهم توپیرونه شته (نهم جدول). مزار شریف (۱۲ کسان) او د کابل ښار (۱۲ کسان) هغه ځایونه وو چې ډېر لوړ شمېر مرکه شوي یې درلودل. په داسې حال کې چې په مزار شریف کې ۱۲.۵ سلنې زده کوونکي دا خبره تائید نه کړه. د کابل په پرتله په مزار شریف کې د هغو ښوونکو شتون چې هڅه کوي د زده کوونکو په سیاسي نظریو اغیزه وکړي ډېر عام دی (۳۷.۵ سلنه د ۸.۳ سلنې په پرتله).

اتم جدول: د زده کوونکو فعالینو د معلوماتو پر اساس په لوړو ښوونځیو کې په سیاسي فعالیتونو کې د ښوونکو ښکیلتیا.

| | د هو ځواب سلنه | شمېر |
|---|---|---|
| هغه ښوونکي چې هڅه کوي زده کوونکي جلب کړي | ۱۳.۰ | ۲ |
| هغه ښوونکي چې غواړي د زده کوونکو په سیاسي نظریاتو اغیزه وکړي | ۱۹.۲ | ۹ |
| ټول | | ۴۲ |

نهم جدول: د زده کوونکو فعالینو د معلوماتو پر بنسټ په لوړو ښوونځیو کې په سیاسي فعالیتونو کې د ښوونکو ښکیلتیا: د کابل او مزار شریف پرتله

| | مزار | کابل |
|---|---|---|
| هغه ښوونکي چې هڅه کوي زده کوونکي جلب او جذب کړي | ٪۱۲.۵ | ٪۰ |
| هغه ښوونکي چې غواړي د زده کوونکو په سیاسی نظریو اغیزه وکړي | ٪۳۷.۵ | ٪۸.۳ |
| شمېر | ۱۲ | ۱۲ |

# ۴. هغه سياسي سيستم چې پخپله بيا جوړېږي: ګوند ته د فعالينو جذبول

د سياسي ګوندونو جوړول د نوي نسل فعالينو او غړو جذب ته اړتيا لري چې په راتلونکو کمپاينونو کې ګډون وکړي او د ګوند سيمه ييز شتون غښتلی کړي. د افغانستان د پوهنتون د زده کوونکو د سياسي فعاليتونو په هکله د څېړنې او ارزونې واحد يوه پخوانی ليکنه څرګندوي چې قانوني ثبت شوي سياسي ګوندونه خپلو صفونو ته د زده کوونکو په جذب کې خورا ډېر فعال دي او حتی هڅه کوي دغې موخې ته د رسيدلو لپاره د لويو منابعو د ورکولو ژمنه وکړي[۱۴]. نو ولې ثبت شوي قانوني ګوندونه هومره ليوال دي چې حتی د لوړو ښوونځيو زده کوونکی هم جذب کړي؟

زموږ په بيلګه کې، زموږ موندنه دا وه چې د سروې شوو فعالينو يوازې ډېر لږ برخه په ګوند کې غړيتوب ته بدلون ورکوي يا د نورو ګوندونو غړيتوب ته ليوالتيا څرګندوي. د څو لږ و استثنا په ډله کې د جنبش يو فعال ځای درلود چې پخوا يې جمعيت ته ليوالتيا درلوده [۲۹ ، د جنبش فعال، مزار شريف] د ګوند په غړيتوب کې د ثبات ټينګښت ښايي د ګوند بالغ غړي او لاړښوونکي وهڅوي چې نوي غړي په کوچنيوالي کې مخکې تر دې چې د بل ګوند ورته پام شي، خپل ګوند ته جذب کړي. زموږ د اوسنۍ څېړنې موندنې هم څرګندوي چې پلرونه او زده کوونکي يا په ګوند کې غړيتوب لري او يا هڅه کوي، مخکې تر دې چې ګوندونه هغوی ته مراجعه وکړي، له سياسي ګوندونو سره يو ځای شي.

## ۴.۱ د غړيتوب بېلګې

د زده کوونکو فعالينو ډيرې لويې برخې څرګنده کړه چې ملګري ئې له سياست سره علاقه نه لري. په معمولي ډول د ډېر ناوړه حالت درلودونکي زده کوونکي هومره ليوال نه دي چې له ګوندونو سره يو ځای شي:

> *زه په يوه بيرته پاته ښوونځي کې يم. ډير زده کوونکي په نيستمنو او ارمنو کورنيو پورې تړاو لري. هغوی د مزدورانو په توګه کار کوي او هڅه ئې داده چې د خپلې کورنۍ لپاره پيسې وګټي. د همدې لپاره هغوی نشي کولای له موږ سره يو ځای شي. زه عقيده لرم چې د ستونزو لرونکي کسانو لپاره سخته ده چې د تولنې د پرمختګ په هکله فکر وکړي[۱۸ ، د ملي محاذ فعال، مزار شريف].*

له حکومتي ګوندونو سره د يو ځای کيدلو يو مهم اړخ دا دی چې د ګوند د غړيتوب منل کولای شي د کار د پيدا کولو لپاره لار اداره کړي. ځينی مرکه شوو دا خبره په بربنډه توګه په ډاګه کړه:

> *له سياسي ګوند سره يو ځای کيدل زما لومړی ګام ده. په راتلونکي کې، زه هڅه کوم چې مشهور سړی شم تر څو پارلمان ته د تللو جوګه شم. زما هيله داده چې د خلکو استازی شم. د سياست له لارې به زه خلکو ته ډير کار وکړم[۱۲ ، د وحدت فعال، کابل].*

> *زه په رښتيا ليوال يم چې د افغانستان په راتلونکي سياست کې يو مشهور او مهم سياسي شخص شم. زه پوهيږم چې خپلې موخې ته رسيږم. زه تل سياست ته ډير ليوال يم او غواړم دې ليوالتيا ته دوام ورکړم. دا به زما خوشالي وي چې خپلې تولنې او هيواد ته خدمت وکړم[۱۰، د روند سبز فعال، کابل].*

> *زما شخصي موخه داده چې د افغانستان د حالت په اړه نوي او تازه معلومات ولرم. زه غواړم و پوهيږم چې زموږ په هيواد کې څه تيريږي. زه د تولنې په وړاندې د مسوليت احساس کوم. موږ راتلونکی نسل يا ستو. که څوک غواړي د حکومت يوه برخه وي، نو ښه به دا وي چې ژر په سياست کولو پيل وکړي. ما له سياست سره ليوالتيا درلوده، نو ځکه مې پريکړه وکړه چې له يوه سياسي ګوند سره د يو ځای کيدو له لارې سياست پيل کړم[۱۹، د جنبش فعال، مزار شريف].*

د سياسي ژوند لارې د درلودلود هيلې ترڅنګ، له حکومتي ګوندونو سره د يوځای کېدو بل دليل هغه بالقوه ګټه ده چې د ملاتړ د شبکې غړيتوب لاس ته راځي:

> *زده کوونکي غواړي يو سياسي ملاتړ ولري چې د زده کړې فرصتونه او سکالرشيپونه لاس ته راوړي، او له دې لارې يوه دنده ترلاسه کړي [۵۵ ، ښوونکی، جلال آباد].*

نور ښوونکي ځينې وختونه د زده کوونکو له فعاليت سره مخالفت لري، ځکه چې دا ډول فعاليت د هغوی لومړنۍ او ډېره مهمه موخه ګڼډل کېږي:

> *زده کوونکي ډېر وخت د دې لپاره له سياسي ګوند سره يو ځای کيږي چې يوه دنده پيدا کړي او يا لوړو زده کړو ته دوام ورکړي[۲۴، ښوونکی، غزنی].*

---

۱۴ جيستازي، "ملاتړ او بغاوت ترمينځ".

*ځوانان اکثره له سیاسي ګوندونو سره د دې لپاره یو ځای کیږي چې پیسې وګټي او خپلو شخصي موخو لکه د سکالرشیپونو لاس ته راوړلو ته ورسیږي[۲۹، ښوونکی، پکتیا].*

*هغوی، ښوونکي دې ته مجبوروي چې لوړې نمرې ورکړي. ځینې وختونه، هغوی په ښوونځي کې ستونزې رامنځ ته کوي[۲۸، ښوونکی، پکتیا.]*

په سیاسي حکومتي ګوندونو کې د شمول دلیل داده چې د دوو نسلونو په منځ کې د ماتېدو مخنیوی وشي. په حقیقت کې د (۲۰) زده کوونکو له ډلې څخه (۱۷) زده کوونکو (**۸۵** سلنه) په دې اړه د پوښتنې په ځواب کې وویل چې هغوی د خپلې کورنیو له خوا هڅول شوي، چې د دوي له ګوندونو سره یو ځای شي. د **۲۸** زده کوونکو فعالینو له ډلې څخه (۷۸.۲ سلنې) تائید کړه چې د هغوی کورنیو ورته سیاسي نظریې درلودې. د بېلګې په ډول، جذب شوي زده کوونکي تمایل لري د خپلو پلرونو لار تعقیب کړي[**۴۵**، ښوونکی، کاپیسا] (لسم جدول) په دې اړه یوه ځانګړې څرګندونه په لاندې ډول ده:

*زما پلار زه وهڅولم چې دا لاره غوره کړم. هغه هم د جنبش غړی ده. هغه پوهیږي چې که چیرې زه خپله سیاسي لار په همدې ګوند کې وټاکم نو په ژوند کې به بریالی یم. کله چې زه لا ډیر ځوان وم، منظور مې داده چې په لسم ټولګی کې وم، پلار مې راته وویل چې له دغه ګوند سره یو ځای شم. نو ځکه، ما خپل سیاسي فعالیت له نوموړي ګوند سره پیل کړ[۱، د جنبش فعال، مزار شریف]*

لسم جدول: د کورنیو غړو سره د زده کوونکو فعالینو اړیکی

| | ټول | غیر قانوني | قانوني، حکومتي ضد ګوندونه | قانوني، حکومت پلوه ګندونه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر |
| د کورنۍ په خوښه | ۷۸.۳ | ۳۶ | ۲۲.۷ | ۸ | ۱۰۰.۰ | ۱۰ | ۷۵.۰ | ۱۸ |
| ټول | | ۴۶ | | ۱۲ | | ۱۰ | | ۲۴ |

نتیجه دا چې په ځینو ښوونځیو کې چیرې چې په سیمه کې حکومت پلوه ګوندونه قوي حضور ولري، کیدای شي د زده کوونکو ټوله ډله یوه ګوند سره یوځای شي:

*زموږ په ټولکي کې شاوخوا (۵۰) زده کوونکی دي، او له هغو څخه (۲۰) زده کوونکي اسلامي جمعیت ته کار کوي. ښايي زموږ په ښوونځي کې داسې ښوونکي هم وي چې د سیاسي فعالینو په توګه کار کوي، زه داسې فکر کوم، خو ډاډمن نه یم[۱۴، جمعیتي فعال، مزار شریف].*

*زما په ټولګي کې له ما سره د جمعیت شپږ فعالین شته دي. زه دقیق نه پوهیږم چې زموږ په ښوونځي کې څو فعالین وجود لري. دغه شپږ زده کوونکي چې زما په ټولګي کې دي، سره ملګری هم یاستو[۸، د اسلامی جمعیت فعال، مزار شریف].*

عمودي جذب (د زده کوونکو له خوا د زده کوونکو جذب) هم شته، خو دا موضوع په حکومت پلوه ګوندونو کې، تر هغه ځایه چې په ښوونځیو کې په جذب پورې اړه لري، په نسبي توګه لږ واقع کیږي.

د سروې په جریان کې مالومه شوه چې عمودي جذب شته:

*ما د سیاست په اړه سوچ کاوه، او زما هم ټولګیو زما پاملرنه دغه ګوند ته راواړوله. هغوی زه ددې ډلې د فعال په توګه جذب کړم. د دې ترڅنګ، ما هم له سیاسي مسئلو سره علاقه درلوده، او وس ئې هم لرم[۱۴، د جمعیت فعال، مزار شریف.]*

په هر حال، حتی کله چې عمودي جذب هم تر سره شي، داسې معلومیږي چې د کورنۍ له خوا هڅول هم ورسره شته یا لږ تر لږه، ځینې پخوانۍ اړیکې موجودې دي. ځینو هغو مرکه شوو کسانو چې د ملګرو له خوا جذب شوي وو، داسې وویل:

*زما کورنۍ زه وهڅولم. هغوی غوښتل زه د سیاست له لارې دې هیواد ته خدمت وکړم. زه پوهیږم چې زما کورنۍ زما او زما د هیواد په ښېګڼه فکر کوي. کله چې زه په یوولسم ټولګي کې وم، ما یو څوک پیژانده چې د ملی محاذ سیاسي ګوند ته یې کار کاوه، هغه په بل ټولګی کې وو. ماله هغه څخه وپوښتل چې د نوموړي ګوند هدفونه ماته تشریح کړي. هغه را ته تشریح کړل او ما وموندل چې دا موخې زموږ د راتلونکي لپاره ډیرې ګټورې دي. ځکه ما پریکړه وکړه چې له هغوی سره یو ځای شم، بیا وروسته هغه زه د ګوند استازې، قوماندان اختر، ته ور وپیژندلم، او مائې غړیتوب ترلاسه کړ[۱۸، د ملی محاذ فعال، مزار شریف].*

*ما یو هم ټولګی درلود چې نوم یې واسع الله وو او د دغه ګوند لپاره یې کار کاوه، هغه زه دې ډلې ته جذب کړم. هغه د نوموړي ګوند په اړه هر څه ماته تشریح کړل. ما ددغه ګوند موخې دافغانستان د نوي نسل لپاره ډیرې ګټورې وموندلې. ځکه ما پریکړه وکړه چې له هغوی سره یو ځای شم. د دې تر څنګ، زه د سیاست لیوالوم او غوښتل مې چې له دې لیارې هیواد ته خدمت وکړم. ماتل علاقه درلوده چې د جنرال دوستم ګوند ته کار وکړم او یو ورځ د هغه په شان شم. [۹، د جنبش فعال، مزار شریف].*

له ښوونځي څخه بهر، حکومت پلوه ګوندونه په ډېریدونکي توګه د زده کړو په جوړښتونو باندې تکیه کوي ترڅو چې ځوانانو ته د جذب او ګومارلو فرصتونه برابر کړي؟. ښايي جنبش لومړی ګوند وي چې د زده کړې لوړو ښوونځیو له څنګ سره یې زده کړیزو کورسونو ته خورا ډېره پاملرنه وکړه[۱، ۲۰]. ځینې مرکه شوو څرګند کړه چې نوموړو کورسونو ته لېواله وو:

*دغه ګوند ،ملي اسلامي جنبش، ځوانانو ته ډېر ښه د زده کړې پروګرامونه وړاندې کړي دي. دې خبرې زه نوموړي ګوند ته لېوال کړم، نو پریکړه مې وکړه چې افغان ځوانانو ته د همدې ګوند له لارې خدمت وکړم. ما د دوی لنډ مهاله کورسونه تعقیب کړي دي[۵ ]*

حتی کله چې کورسونو نېغ په نیغه له جذب سره اړه نه لرله، هغوی د معاصر افغانستان لپاره زده کړو ته د جنبش ژمنې تبلیغولې:

*د دې ګوند عمده موخه د ځوانانو په منځ کې د زده کړې متوازن کول دي. په حقیقت کې نه یوازې زده کړې، بلکې په ټولو برخو کې د ځوانانو پرمختګ او سمون د ګوند هدفونه جوړوي. دا ګوند د افغانستان د ځوان نسل هیلې را ژوندۍ کوي او هغوی ته آسانتیاوې برابروي. دغو موخو په واقعیت کې زما توجه جلب کړه[۱۹ ، د جنبش فعال، مزار شریف].*

داسې ښکاري چې نوموړي مودل د نورو ګوندونو له خوا هم بریالی وګڼل شو ، او هغوی هم هڅه وکړه چې په دې هکله سیالي وکړي:

*زموږ ګوند د زده کړو او د هیواد د ټولنې د حالت د ښه والي لپاره هڅې تر سره کړي دي. د زده کړو د کورسونو جوړول زموږ د پروګرامونو یوه برخه جوړوي.که چیرې زموږ په کورسونو کې شامل شئ نو پوه به شي چې دې هیواد ته خدمت کوو. او په دې توګه ښائې هغوی زموږ له ګوند سره یو ځای شي[۱۸ ، د ملي محاذ فعال، مزار شریف].*

*زموږ عمده هدف داده چې ځوانان زده کړو ته وهڅوو. موږ په عین حال کې په کلیو کې دکانکور ( د پوهنتون د شمول آزموینه) په اړه پوهاوي لوړوو، ځکه چې په کلیو کې میشت زده کوونکي د کانکور په اړه معلومات نه لري. موږ د ځوانانو د روزنې لپاره کورسونه جوړوو. دا ډول فعالیتونه د ګوند له خوا تنظیمیږي[۱۱ ، د جمعیت فعال، کابل].*

ټول هغه شیان چې په دې برخه کې تر بحث لاندې ونیول شول، څرګندوي چې حکومت پلوه ګوندونه ډېر د منځنې طبقې لېوالو متخصصینو ته مراجعه کوي؛ د منځنۍ طبقې له لېوالو کسانو څخه منظور هغه کورنۍ دي چې په ټولنه کې زده کړه د رشد او پرمختیا کونجي (کیلي) ګڼي، او په دې هم پوهیږي چې د افغانستان په ملاتړ پالونکي ټولنه کې یوازې زده کړې ټولې لارې خلاصولی نشي. د دغو زده کوونکو غوښتنې لږ ترلږه د حکومت په بیروکراسۍ کې د کارموندنه، او په ښه حالت کې د ګوند له لارې ټولنیزو نورو کچو ته رسیدل دي. د ګوند ځانګړي فعالین غواړي چې زده کړې ته دوام ورکړي، پوهنتون ته ولاړشي او په بهرکې زده کړې وکړي. دغه فعالین دافغانستان د زده کړې په سیستم باندې په ښکاره نیوکه نه کوي (او د اځکه چې نه غواړي هڅې یې د هغوی غوښتنو ته زیان ورسوي)، هغوی داسې ادعاکوي چې د راتلونکې په هکله خوشبینه دي، او له شته حالت څخه ملاتړ کوي ( یوولسم جدول). دا ډول زده کوونکي د ګوند "میراثي" غړي دي، ځکه چې د کورنۍ لویان یې له وخته د دغه ګوند غړي وو.

یوولسم جدول: د زده کړو په اړه د زده کوونکو فعالینو نظریې او تمې

| | ټول | غیرقانوني | قانوني، د حکومت ضد | قانوني، حکومت پلوه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر |
| د افغان د زده کړې له سیستم څخه رضایت لري | ۴۱.۳ | ۱۹ | ۰ | ۰ | ۴۰.۰ | ۴ | ۲۲.۵ | ۱۵ |
| د راتلونکې لپاره خوشبیني لري | ۷۸.۳ | ۳۶ | ۲۶.۷ | ۸ | ۷۰.۰ | ۷ | ۸۷.۵ | ۲۱ |
| غواړي په بهرکې زده کړې وکړي | ۷۶.۱ | ۳۵ | ۲۶.۷ | ۸ | ۸۰.۰ | ۸ | ۷۹.۲ | ۱۹ |
| غواړي پوهنتون ته ولاړ شي | ۹۱.۳ | ۴۲ | ۷۵.۰ | ۹ | ۹۰.۰ | ۹ | ۱۰۰.۰ | ۲۴ |
| ټول | | ۴۶ | | ۲۱ | | ۱۰ | | ۲۴ |

## ۴.۲ موخې

زده کوونکي فعالین په ښکاره ډول وایې چې د ګوند موخې یې د تمې په پرتله ډېرې ستونزمنې ښکاره شوې. په اکثرو مواردو کې له ابهام څخه ډکې څرګندونې لکه د افغانستان هوسا ینه هغه خبرې وې چې لاس ته را تلای شوې. د سروې په لړکې، داسې باور ترلاسه شو چې د نوموړو فعالینو ډېری له ګوند سره په سطحي توګه یوځای شوي دي او په واقعي بڼه د ګوند له پروګرام او نظریاتو څخه خبرنه دي؛ دا خبره هغه نظریه تاییدوي چې له حکومت پلوه ګوندونو سره یو ځای کیدل اکثره د واقعیت کتنې پر اساس صورت موندلی او د زده کوونکو فعالینو هدف داده چې د خپل اکادمیک او راتلونکې ژوند لپاره ملاتړ تر لاسه کړي.

کله چې د پوښتنو په وړاندې ځوابونه لاس ته راغلل، نومعلومه شوه چې د غیرمذهبي ګوندونو فعالینو ته آسانه وه چې وواییی ولې په افغانستان کې د شته حالت ملاتړکوي. د جنبش یو فعال وایي:

*په حقیقت کې ، په پخوا کې خلکو له زده کړو او په ټولنه کې له پرمختک سره مینه نه درلوده. اوس، زه کولای شم د هغو په ذهنیتونوکې لوی بدلون ووینم. هغوی هم غواړي ( په افغانستان کې) د نبه والی د راوستلو یوه برخه وګڼل شي. په حقیقت کې، ځینې بهرنیو هیوادونو د افغانانو په مینځ کې نژاد پالنه او توکمپالنه خپره کړه. خلک ډیر توکم پاله وو. خو اوس، هغوی زده کړې تر سره کړي، او لکه پخوا په ټولنه کې هومره ډیره توکم پالنه شتون نه لري [۱ ، د جنبش فعال ، مزار شریف].*

د یادولو وړده چې له ۲۰۰۱ کال وروسته د جنبش له خوا غنیمت اخیستنه او تالان د نورو اسلامي ګوندونو لکه اسلامي جمعیت، هومره ډیر نه وو. په هرحال، د جنبش فعالینو په ټولیزه توګه په حکومت پلوه ګوندونو کې د شته حالت د تا یید لویې انګازې خپرې کړې. په شمال لویدیز افغانستان کې د جنبش یو مرکه شوی غړی چې اوزبک وو په دې ښه پوهیده چې د هیواد دې برخې له ۲۰۰۱ کال څخه وروسته حالت څخه ډیره ګټه پورته کړې ده، که څه هم جنبش پخپله په کابل کې د سیاسي سیستم له خوا د ګټو او امتیازونو څخه یو څو ګټې ترلاسه کړې دي.

*د حکومت پلوه اسلامي ګوندونو فعالینو د خپلو ګوندونو د موخو په توضیح کولو کې، په تیره بیا د حاضر حالت په ګټه، چې لا رښوونکو یې ډیرې ګټې پکښې ترلاسه کړي، ډیرې هڅې وکړې.خو په پای کې له ۲۰۰۱ څخه وروسته نظم، د دغو ګوندونو د نظریو پراساس دیوه اسلامي حکومت له جوړولو څخه لیرېپاته شو. د بیلګې په توګه، هغه نظریې چې د اسلامي جمعیت د غړو له خوا بیان شوې، په افغانستان کې د هوساینې په اړه له ابهام څخه ډکوژمنو او بیانو څخه را نیولې، بیا په افغانستان کې د یوه اسلامی حکومت تر جوړولو پورې په غیږ کې نیسي [ ۳۹ ، د اسلامي جمعیت فعال؛ ۱۴ ، د اسلام جمعیت فعال، مزار شریف].*

د اسلامی جمعیت د موخو ډیر تفصیلي بیان داسې وو:

*د افغانستان د اسلامي جمهوریت تر قانوني اختیار لاندې په افغانستان کې انکشاف او وده. د شریعت پلي کیدل او د فساد د جرړو ایستل او همدا ډول د زده کړې د سیستم انکشاف [۲۲ ، د اسلامي جمعیت فعال، کابل].*

مرکه شوو کسانو ددې ضرورت احساس کاوه چې ورته وویل شي چې د هغوی منظور له «اسلامي دولت» څخه څه شی ده: " زموږ موخه د داسې اسلامي رژیم جوړول دي چې د طالبانو له موخې سره ډیر توپیرلري" [ ۳۱، د اسلامی جمعیت فعال، بغلان]، داسې اسلامي حکومت د نړۍ له پاته هیوادونو سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی [ ۳۵ ، د اسلامي جمعیت فعال ، مزار شریف}. دا خبرې ډیرې د علاقې وړ دي، ځکه چې د حکومت پلوه اسلامي ګوندونو مبارزه د یوه اسلامي سیستم د جوړولو لپاره ښیي چې له نورو افراطي ډلوسره توپیرلري. حکومت پلوه اسلامي ګوندونه اړدي توضیح کړي، سره له دې چې له ۲۰۰۱ کال را وروسته د حکومت یوه برخه شمیرل کیږي ، ولیبې ونشوکړای د سیستم د لا اسلامی کولو په لارکې مهمې لاس ته راوړنې ولري. برعکس، هغو د سیاسی سیستم د لیبرالیزه کولو مشرتوب په غاړه درلود. په ځانګړې توګه د هغوی لپاره دردوونکی ټکی داده چې په افغانستان کې یې د غرب د مداخلې ملاتړوکړ ( ښکته مطلب وګورئ):

## ۴.۳ فعالیتونه

د زده کوونکو ډیر فعالیت چې د ښوونکو له نظره پټ پاتې نه ده لکه بې اختیاره بحثونه منظم نه وو، دا خبره د مرکه شوو ښوونکو د ۹۲/۳ سلنې له خوا تایید شوي ده. لکه چې یوه ښوونکي وویل:

*هو، ما د زده کوونکو په مینځ کې نا منظم سیاسي فعالیتونه چې د افغانستان په لوړو ښوونځیو کې طبیعی بریښی، لیدلي دي. په ټولګیو کې هغه زده کوونکي چې په سیاسی فعالیتونوکې ښکیل دي، د هیواد د مختلفو سیاسی مسلو په هکله له نورو زده کوونکو سره بحثونه خوښوي [ ۴۱ ، ښوونکی، تجربوی ،همدا ډول ۴۲ ، ښوونکی، پروان].*

"بحثونه" د سیاسي فعالیتونو هغه ډیره عامه بڼه وه چې په ښوونځیو کې د زده کوونکو او ښوونکوله خوا یو شان یادیدله (شپږم جدول او ضمیمه، ۱۱ او ۱۲ جدولونه)

تر یوې کچې دغه عقیده له دې حقیقت څخه سرچینه اخلي چې باندیني کتونکي په لوړو ښوونځیو کې د سیاسي فعالیت یوازې سطحي مظاهر ویني. په هر صورت، دا هم جوته ده چې حکومت پلوه ګوندونه له خپلو زده کوونکو غړو څخه ښائید هغود لږ عمر له کبله ډیرې غوښتنې نه لري:

*زه شخصا له خلکو سره سیاسي بحثونه خوښوم. زه کومه ځانګړې دنده نه لرم؛ زموږ د ګوند لپاره بس ده چې موږ ورسره یوځای شوي یو. کله چې زه له ښوونځي فارغ شم، ښایي په ډېرو سیاسي فعالیتونو کې ګډون وکړم. اوس اوس، د ښوونځي ټول زده کوونکي یوازې د ګوند غړیتوب مني، خو کله چې موږ ښوونځی خلاصه کړو او پوهنتون ته ولاړشو، نو خپل فعالیتونه به پیل کړو [۸ ، د جمعیت فعال، مزار شریف].*

خو دا خبره د ټولو حکومت پلوه ګوندونو په هکله ربښتیا نه ده. داسې ښکاري چې ځینې قانوني ګوندونه د هرم په بڼه غښتلي تشکیلات لري، چې د ( خلکو ) له نظره پټې پالیسۍ او موخې لري:

*ښایي ، مهم هدفونه پټ وي او تر اوسه بربنډ شوي نه وي. له دې سره، ترهغه ځایه چې زه پوهیږم، موږ د ګوند له خوا هڅول کیږو چې زده کوونکي خپلې ډلې ته د یو ځای کیدو لپاره تشویق کړو. نو ځکه موږ ډېره هڅه کوو زده کوونکي جذب کړو [۱۵ ، د وحدت فعال، کابل].*

*زه نشم کولای چې ټول هدفونه ښکاره کړم او ښایي زه په ټولو موخو ونه پوهیږم، خو په هغه څه چې زه پوهیږم دا دي چې دغه ګوند موږ هڅوي چې د سیاست یوه برخه شو. زموږ ګوند ځینې د زده کړو پروګرامونه لري. د وحدت ګوند غواړي چې موږ زده کوونکي له سیاست سره بلد شو، ځکه چې سبا ورسره مخامخ کیږو، ترڅو وکړای شو د هغه په اړه اقدام وکړو. موږ اړ یو و پوهیږو چې د افغانستان په سیاست کې څه تیریږي. زما په آند، موږ باید نه یوازې د اوسني حالت په اړه په یو څه و پوهیږو، بلکې د تاریخي کتابونو له لوستلو سره باید د افغانستان د تیرشوي حالت په اړه یو څه زده کړه وکړو ترڅو وپوهیږو چې زموږ زاړه او نوي غلیمان څوک دي [۱۲ ، د وحدت فعال، کابل].*

ډیر وختونه، دا خبرې د افغانستان په حالت پورې اړه لري: موږ له خپل مرکزي دفتر څخه هدایت اخلو. هغوی موږ ته وایې چې باید څه وکړو. زه پخپله تل خپلو ملګرو ته وایم چې باید په سیاست وپوهیږي او د حالتونو په اړه تازه او نوی معلومات ولري، ځکه چې موږ نوی نسل یا ستو. موږ هغه کسان یو چې په راتلونکي وضعیت تر کنترول لاندې نیسو. زه اکثره خلک خپل ګوند ته را بولم [۲ ، د وحدت ګوند فعال].

## ۴.۴ سیاسي نظریې

### د غربیانو حضور او غربي کېډل

د حکومت پلوه غیر مذهبي ګوندونو له خوا، د غرب حضور او هغه څه چې وسله وال مخالفین یې " غربي کول " بولي، خورا په مثبته توګه څیړل کیږي ( دولسم جدول ):

*ترهغو چې افغان حکومت په خپلو پښوونه دریږي، موږ د نړیوالې ټولنې او متحده ایالتونو مرستې ته ضرورت لرو [۲۸ ، د جنبش فعال، بلخ].*

په هر حال، حتی د غیر مذهبي ځوانو فعالینو په مینځ کې د غرب په حضور او ملاتړ باندې ترحد ډیره تکیه کولو او ځینو پایلو په اړه شک وجود لري:

*زه فکرکوم چې پخپل ځان تکیه کول ډیر ښه دي. په دې مانا چې موږ باید مازې د غربیانو د مرستې په تمه ناست نه یو. موږ اړیو چې ډیر کار وکړو. زما هیله داده چې افغان امنیتي ځواکونه پخپله امنیت ټینګ کړي او د بهرنیو ځواکونه لپاره اړتیا نه وي. لکه چې ټول پوهیږي، هغوی د خپلو سیاسي موخو لپاره دلته ناست دي. زه پوهیږم کله چې هغوی خپل هدفونو لاس ته راوړي له دې هیواد څخه ځي. نوځکه باید د هغو د وتلو لپاره چمتو اوسو [۱ ، د جنبش فعال، مزار شریف].*

دولسم جدول: د بهرنیو هیوادونو د اغیزې په اړه د زده کوونکو فعالینو تحلیل

| | ټول | غیرقانونی | قانوني، ضد حکومتي | قانونی ، حکومت پلوه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر |
| د غرب مثبتې اغیزې | ۵۴.۳ | ۲۵ | ۰/۰ | | ۵۰.۰ | ۵ | ۸۳.۳ | ۲۰ |
| د پاکستان مثبتې اغیزې | ۸.۷ | ۴ | ۲۵.۰ | ۳ | ۱۰.۰ | ۱ | ۰.۰ | ۰ |
| د ایران مثبتې اغیزې | ۱۰.۹ | ۵ | ۲۵.۰ | ۳ | ۱۰.۰ | ۱ | ۴.۲ | ۱ |
| د سعودي مثبتې اغیزې | ۱۵.۲ | ۷ | ۳۳.۳ | ۴ | ۳۰.۰ | ۳ | ۰.۰ | ۰ |
| ټول | | ۴۶ | ۰ | ۱۲ | | ۱۰ | | ۲۴ |

هغه ځانګړی نظریې چې د حکومت پلوه اسلامی ډلو د فعالینو له خوا وړاندې شوي دادي چې هغوی له هر ډول غربي کیدلو څخه چې وسله وال مخالفین یې ادعاکوي له ملاتړ پرته، د واقعي اسلام (له اسلام څخه د طالبانو د تعبیر په خلاف) د بیا را ژوندي کولو پلویان دي، او په غرب کې د اسلام مثبت تصور ته وده ورکوي. حکومت پلوه اسلامیستان اړدي چې په داسې حال کې چې د غرب د ځواکونو له حضور او د هغوی له مالي مرستو څخه ملاتړ کوي، په څرګند ډول غربي کیدل ردکړي:

*موږ عقیده لرو چې اسلام له غرب سره هیڅ کار نه لري، خو ځینې و ختونه غربي کول او لویدیزوال زموږ په دین کې دخالت کوي .... خو البته ، موږ په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور په اړه ځینې بحثونه لرو. زما په آند ، د هغوی حضور د ( افغان ) ځواکونو او اقتصاد لپاره ګټور ده. خلکو د هغوی د وتلو په اړه ډیر تشویش درلود ، خو د امنیتي موافقت لیک له لاسلیک کیدو سره سم ډاډه شول [۳ ، د اسلامی جمعیت فعال، مزار شریف].*

*د نورو هیوادونو د مداخلې په هکله زما نظر داده چې هغوی نه غواړي زموږ هیواد وده وکړي. هغوي په پخوا کې ماته خوړلې، او نشي کولای د خلکو افکار ګډوډ کړي. اوس دوي غواړي چې پخوا بیا تکرارشي، په لمړي سرکې هغوی غواړي زموږ دین ویجاړکړي، او وروسته، زموږ هیواد ته بد مرغي راوړي. په هرحال، هغوی نشي کولای دا موخې ترلاسه کړي ځکه چې نوی نسل په وضعیت باندې پوه ده ... که چیرې بهرنیان دلته پاتې شي، کولای شي زموږ افکارو او دین ته بدلون ورکړي. دوهم داچې، موږ پوهیږو که چیرې بهرنیان له دې ځای څخه ولاړشي، نو موږ به له ستونزو سره مخامخ شو. موږ پوهیږو چې په افغانستان کې طالبان او نورې شورشي ډلې شتون لري.... [۱۳ ، د جمعیت فعال، کابل].*

دغه ایدیولوژیکه معما نه یوازې د اسلامي جمعیت د فعالینو اندیښنه ده. د اسلامي ګوند قانونی وزر ( برخه ) باید هرومرو دغو مسئلوته ځواب ووایي. داموضوع به ددې حقیقت په نظر کې نیولو سره چې بلې برخې په هیواد کې د غرب د حضور په وړاندې جهاد اعلان کړی دی، وضعیت لا پیچلی کړي. د اسلامي ګوند فعالین لکه اسلامي جمعیت رفورمیستی نظریې بیانوي، که څه هم هغوی د نوموړي ګوند په غیر قانوني برخې پورې اړه لري چې لاتر اوسه په وسله وال شورش کې شکیل دي:

*دا یوه اسلامي تولنه ده، خو په خواشنیی سره ځینېخلک نه پوهیږي چې واقعي اسلام څه شی ده. زما هیله داده چې هغوي د اسلام د ګټور فرهنګ په اړه واقعي پوهه ترلاسه کړي او خپلې لارې ته بدلون ورکړي [۳۰ ، د حکمتیار د اسلامی ګوند فعال، بغلان].*

د ګوند د شورشي برخې ونډه د ډیرو محدودو موخو له خوا څرګنده شوي ده:

*زه له دغو سیاسي ګوندونو سره کوم مخالفت نه لرم، خو په دې وخت کې د حکومت په وړاندې جګړه سمه نه بولم. زموږ امیر (ګلبدین حکمتیار) د بهرینو ځواکونو په وړاندې د جهاد اعلان کړی ده، نه دافغانستان د حکومت په وړاندې [۳۰ ، د حکمتیار د اسلامی ګوند فعال، بغلان].*

د اسلامي ګوند د قانوني او ناقانونه برخو د غړو توپیر په دې کې ده چې قانوني برخه غواړي خپلې موخې ("موږ د اسلام او قرآن حاکمیت غواړو ") په هیوادکې د غرب د حضور له ضرورت سره پخلا کړي:

*د غربیانو حضور زموږ په هیواد باندې مثبتې او منفي اغیزې لري. ځکه چې موږ د هغوی مالي او نظامي ملاتړ ته اړتیا لرو، نوموږ باید د هغوی ملاتړ وکړو [۲۷ ، د اسلامی ګوند ( قانونی برخی) فعال، بلخ].*

له دی ځواب سره، مرکه شوی شخص څرګندوي چې تر اوسه حکمتیار د خپل لاربنود په توګه پیژني، که څه هم زوړ لاربنود شورش ته ژمن دی او د ګوند قانوني وزر په رسمیت نه پیژني. له حکمتیار څخه اقتباس څرګندوي چې نوموړی فعال باور لري چې د غرب د نظامي ځواکونو په وړاندې جهاد مشروع ده، خو د افغان حکومت د ځواکونو په وړاندی جګړه مشروعیت نه لري. په هرحال، د نوموړي ګوند د قانوني اړخ غړي په افغانستان کې د غربي نظامي ځواکونو د درانده حضور په کلونو کې د کابینې غړیتوب درلود. دغه نه حل شوي متضادې خبرې کولای شي دا موضوع توضیح کړي چې ولې نوې افراطي ډلې په داسې یوې سیاسي ننداره باندې یرغل وکړي چې لا پخوا د اسلامي او بنسټ پالو ډلو حاکمیت پکښې ټینګ وو. (لاندې شیږ مه برخه وګوری).

## د ښځو حقونه

د حکومت پلوه ګوندونو فعالینو یا د ښځو د حقونو په اړه نظرورنه کړ او یا ئېډ هغوی د حقونوله ودې څخه خپل ملاتړ بیان کړ ( د مرکه شوو ۲۸ سلنه ) ، که څه هم لکه د لاندې خبرو په شان له ابهام څخه ډ کو ګقاعدو سره یو ځای وې:

*البته چې موږ د ښځو د حقونو په اړه بحث کوو. زه پخپله په دې موضوع کې ډېر حساس او جدي یم، ننورځ د ښځو حقونه ډېر ضایع کیږي. موږ غواړو چې د هغوی حقونه له نارینه وو سره برابر وي. هغوی هم انسان دي. موږ په دې هکله هم ځینې پروګرامونه لرو [ ۹ ، د جنبش فعال، مزار شریف].*

*موږ تل د ښځو د حقونو موضوع را پورته کوو. موږ نه غواړو چې د ښځو حقونه ضایع شي. افغان ښځو ډېر ربړونه ګاللي دي، موږ باید دهغو خلکو مخنیوی وکړو چې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی کوي. [ ۱۹ ، د جنبش فعال، مزار شریف].*

*هو، موږ هم د ښځو د حقونو په هکله بحثونه لرو. دا ډېره مهمه موضوع ده ځکه د ښځو حقونه په ټول افغانستان کې تر پښولاندې شوي دي. هغوی له خپلو حقونو څخه برخمن نه دي. زما هیله داده چې د هغوی حقونه له نارینه وو سره برابر شي. [ ۱۸ ، د ملی محاذ فعال، مزار شریف].*

*موږ هم د ښځو په حقونو باندې خبرې کوو. لکه چې پوهیږو، نن ورځ ، د ښځو د حقونو بې عزتي کیږي... [۱۲ ، د اسلامی جمعیت فعال، کابل].*

*موږ هم کله کله د ښځو د حقونو په باره کې خبرې کوو. موږ اړیو چې د هغوی ډېر درناوی وکړو. ځکه چې نن ورځ په افغاني ټولنه کې د ښځو حقونو ته پاملرنه نه کیږي. موږ نه غواړو دا وضعه په راتلونکي کې دوام ومومي. د ښځو حقونه باید هرومرو له نارینه وو سره برابر وي [ ۱۵ ، د وحدت فعال، کابل].*

*نن ورځ، د افغاني ټولنې لویه کمزورتیا د ښځو موضوع ده. ښځې حقونه نه لري. زموږ حکومت باید په دې اړه ځینې اقدامونه وکړي. لکه چې پوهیږی، ورځ تر ورځې د تجاوز پیښې ډیریږي. موږ هم په دې اړه خبرې کوو ، موږ غواړو حکومت په دې خبره پوه شي او د ښځو حقونو ته پاملرنه وکړي [۱۲ ، د وحدت فعال، کابل].*

په دې هکله چې نوموړو فعالینو ( ټول نارینه ) مازې سیاست کاوه یا یې په واقعي توګه په خپلو خبرو باور درلود ، ستونزمنه ده چې څه وویل شي؛ په هرحال، جنبش او وحدت[15] هغه ګوندونه دي چې د ښځو د ګټو پر بنسټ د قانون جوړونې په اړه ښه سابقه لري. یوازې یوه فعال وویل چې د دغو ټولو " پاملرنو " اغیزه په نسبي توګه لږ وه:

*نن ورځ، افغان میرمنې له ستونزو سره مخامخ دي، ځکه چې هیڅ څوک د هغو د حقونو په اړه فکر نه کوي. موږ کله کله په دې اړه خبرې کوو چې د حل یوه لاره ومومو. په واقعیت کې، موږ ډیر ددې جوګه نه یو ټول خلک قانع کړو چې د ښځو د حقونو درناوی وکړي، خو موږ هڅه کوو خلک پوه کړو تر څو د هغوی حقونه وپیژني[۱ ، د جنبش فعال، مزار شریف].*

## د اورپکو په اړه دریځونه

ټول حکومت پلوه ګوندونه له وسله وال اړدوړسره مخالف دي، او په هغه باندې په ټینګه نیوکې کوي. په هرحال، په داسې حال کې چې د اسلامي جمعیت فعالین د وسله والو مخالفینو له ډلو سره دښمني لري، لږ ترلږه یوه فعال له مخالفو ډلو سره مصالحه دیوه بریالي حکومت د کړنو د بریالیتوب لپاره مهم شرط وباله:

*که چیرې حکومت له مخالفو ډلو سره د مصالحې او د فساد د جرړود ایستلو نیت او موخه ولري، دا به د روښانه را تلونکي زیری وي؛ که نه ، نو داسې حکومت ته ښه حکومت ویلای نشو [۲۲ ، د اسلامی جمعیت فعال، لوګر].*

## د ملایانو ونډه

د غیر مذهبي ګوندونو فعالینونه غوښتل په ښکاره ډول په ملایانو نیوکه وکړي:

ملایان لا تر اوسه، په تیره بیا په لیري پرتو سیمو کې نفوذ لري. هغوي په اسلام ښه پوهیدلي خلک دي.

*که چیرې طالبان ځان ملایان وکڼې، دا په پوره توګه غلطه ده. هغوي اسلام بدنومی کوي [۱ ، د جنبش فعال، مزار شریف].*

۱۵ د وحدت ګوند چې په ۱۹۸۸ کال کې د اتو شیعه ګوندونو له ترکیب څخه جوړ شوی ده، د ۱۹۹۰ کلونو په کورنۍ جګړو کې یو عمده ښکیل اړخ وو او د ۲۰۰۱ کال په تهاجم کې چې د طالبانو د راپرزولو لامل شو، عمده ګډون کوونکی ګڼل کیږي. نوموړی ګوند د بن وروسته حکومت سره یوځای شو او غړي یې له ۲۰۰۱ وروسته تقریباً په ټولو کابینو کې شامل وو. د کلونو په جریان کې نوموړی ګوند ټوټې ټوټې شو خو د ۲۰۱۴ کال په وروستیو کې لویه برخه د محمد محقق تر لارښوونې لاندې وه چې د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کې د ډاکتر عبدالله پلوی شو او د ملي وحدت د حکومت په جوړیدو سره یې د هغه مرستیالي ترلاسه کړه.

ملایان یا دیني عالمان، په تیره بیا هغه ملایان چې د پرمختیا او تکنولوژی په اړه مثبت دریځ ولري په رښتیا سره د هیواد د ښه والي لپاره کارکوي. هغوی په دې سیمه کې ښه اغیزه لري.

*سره له دې، طالبان هڅه کوي چې اسلام او دیني عالمان بدنومي کړي، خو دا کار نشي کولای. موږ تل د ملایانو درنښت کوو. هغوی زموږ دیني لارښوونکي دي. موږ د هغوی په لاره ځو[۵ ، دملي جنبش فعال، مزارشریف].*

ښکاره ده چې سیاسي لارښوونکو دوي ته ویلي دي چې کله د ملایانو په اړه غږیږي، باید احتیاطوکړي – هغوی پوهیږي چې په افغانستان کې غیرمذهبي کسان ځنډې ته شوي او د اسلامیستانو او بنسټپالو د سمندر له خوا احاطه شوي دي. برعکس، د مرکوجریان ځرګنده کړه چې د مختلفو تمایلاتو درلودونکو اسلامي ګوندونو فعالینو په ښکاره سره په ملایانو نیوکي کولي:

*ډیر افغان ملایان ناپوه خلک دي. هغوی د سیاست په هکله په څه نه پوهیږي. هغوی باید په اوضاع پوه وي. په لیرې پرتو سیموکې طالبان ملایانو ته پیسې ورکوي او هغوی هم ځوان نسل هڅوي چې ملایانو سره یو ځای شي. البته، موږ د خلاص ذهنیت ملایان هم لرو. د هغوی او سنۍ اغیزه عادي ده. د هغوی نفوذ نه خورا ډیر او نه خورا لږ دی[۳ ، د اسلامي جمعیت فعال، مزار شریف].*

*زه فکر کوم چې د افغانستان په اوسني حالت کې د ملایانو ونډه ښه نه ده، ځکه چې هغوی غواړي خپل افکار په خلکو تحمیل کړي. لکه چې پوهیږو، د افغانستان په لویدیزو او ختیزو ولایتونوکې، ملایان د خلکو په مینځ کې د جمهور رئیس یا والي په پرتله ښه موقف لري. ځکه چې ملایان معلومات او زده کړې نه لري نو غواړي چې افغانستان بیرته پاتي وساتي [۱۳، د اسلامی جمعیت فعال، کابل]*

*ملایان په ټولنه کې لږ نفوذ لري. هغوی په ټولنه کې لوي نقش نشي لوبولای. هغوی مازې غواړي خپل فکرونه په خلکو وتپي، چې بې اغیزې دي. د زده کړې خاوندان د ملایانو پروا نه کوي. زه باید تاته ووایم چې ځینې ملایان په لیرې پرتو کلیو کې لوي تاثیر لري [۱۱ ، د اسلامی جمعیت فعال، کابل].*

په حقیقت کې، د اسلامي جمعیت د فعالینو په کتارکې، یوازې یوه په ټولنه کې د ملایانو د نقش ملاتړ کاوه:

*ملایان زموږ حقیقي ښوونکي دي. موږ د هغوی درنښت کوو ځکه چې هغوی زموږ په پرتله د اسلام په اړه ډیر پوهیږي. موږ اړیو چې د هغوی په لارولاړشو. خو تر هرڅه وړومبی، باید اطمینان ترلاسه کړو چې هغوی د طالبانو ملاتړي نه دي ، ځکه چې په لیرې پرتو ځایونو کې ځینې ملایان د طالبانو لپاره کارکوي او خلک هڅوي چې زموږ د حکومت په وړاندې و دریږي [۱۴ ، د اسلامي جمعیت فعال، مزار شریف].*

اسلام پالان علاقه لري چې د معاصر ذهنیت لرونکو ملایانو چې ښه زده کړه لري او ساینس او تکنولوژي مني، او په کلیو کې د نازده کړو ملایانو ترمینځ توپیروکړي. په حقیقت کې، اسلام پالان د اخوان المسلمین د دود پر اساس، خپل ځانونه د ننیو اصولو پلویان شمیري:

*زما په نظر، افغانستان پخپله ټولنه کې د یو بل ډول فرهنګ شاهد او درلودونکی دي. پخوا، موږ خپل زوړ فرهنګ درلود، خو نن ورځ یې بدلون موندلی دي. هغه دودونه چې د نوو او معاصروخلکو لیوالتیا را مینځ ته نه کړي، نو بدلون مومي[۱۳، د اسلامی جمعیت فعال، کابل].*

د اسلام پلوه ګوندونو روزل شوي کدرونه په خلکو باندی د نفوذ او اسلامي مشروعیت پرسر، له ملایانو سره سیالي کوي. دا موضوع حتی په یوه شیعه ډلې لکه د وحدت په ګوند کې چې په حقیقت کې د روحانیونو (لکه محقق) له خوا ئې لارښوونه کیږي، هم شتون لري:

*ملایان نور په کابل کې مهم رول لوبولي نشي. خلک اوس زده کړې لري، او هغوی کولای شي خپل سلیم عقل په کار واچوي. په لیرې پرتو سیموکې ملایان خپل ځان لارښوونکي ګڼي. په کلیو کې خلک هغه څه کوي چې ملایان ورته وائي. هغوی فکر کوي چې ملایان په هر څه پوهیږي. خو ، څنګه چې پوهیږی، ملایان د ټولنې له ټیټو قشرونو څخه دي. نن، ډیری ملایان هم ړه سیاسي فعالیتونو کې ښکیل دي، نو ځکه زه او نور خلک په هغو باور نه کوو[۱۵، د وحدت فعال، کابل].*

*هو، دا موضوع زموږ پخپل منطق پورې اړه لري. هغه خلک چې له خپل سلیم عقل څخه ګټه نه اخلي هغه څه کوي چې ملایان ورته وایي. په ټولیزه توګه، ملایانو خپل اغیز، په تیره بیا په مرکزي سیمه کې له لاسه ورکړی دی. هغوی اوس ډیر نفوذ نه لري. د طالبانو د حکومت په وخت کې ملایانو په ټولنه کې عمده رول درلود [۱۲، د وحدت فعال، کابل].*

*ملایان په ټولنه کې ونډه لري، خو هغوی په مرکزي ولایتونو لکه د کابل په ولایت کې عمده رول نه لوبوي. هغوی مازی په لیرې پرتو کلیو کې نفوذ لري، ځکه چې نه زده کړی خلک له ملایانو څخه خپل لارښوونکي جوړوي. هغوی هغه څه کوي چې ملایان ورته وایي، ملایان خپل فکرونه پر هغو تپي. په مرکزي سیموکې، خلکو تحصیل او زده کړې کړې دي، او هغوی د خپل عقل سره سم کارکوي. په لنډه توګه، ویلای شو چې ملایان په لیرې پرتو سیمو کې د ډیر نفوذ خاوندان دي، په داسی حال کې چې په مرکزي سیموکې کومه اغیزه نه لري [۲، د وحدت فعال، کابل].*

د ۴۲ زده کوونکو فعالینو څخه چې مرکې ورسره شوي دي، ۲۸.۳ سلنه د ملایانو په اړه له نیوکو څخه ډک نظر درلود. په هر ترتیب، دغه سلنه د غیر قانوني (افراطي یا بنسټپال اسلام پالونکي) ډلو په فعالینو کې ۸.۳ سلنه ده چې د حکومت ضد قانوني ډلو په فعالینو کې (۴۰) سلنې ته لوړېږي (د روند سبز ډیری فعالینو له نیوکو ډکې نظریې درلودې).

دیارلسم جدول: د ملایانو او شورشیانو په اړه د زده کوونکو فعالینو نظریې

| | ټول | غیرقانوني | قانوني، ضد حکومتي | قانوني، حکومت پلوه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر |
| د اورپکو دښمن | ۲۳.۰ | ۲۹ | ۸.۳ | ۱ | ۲۰.۰ | ۲ | ۹۱.۷ | ۲۲ |
| د ملایانو په اړه انتقادي نظر | ۲۸.۳ | ۱۳ | ۸.۳ | ۱ | ۴۰.۰ | ۴ | ۳۷.۵ | ۹ |
| ټول | | ۴۲ | | ۱۲ | | ۱۰ | | ۲۴ |

## د کرزي په دوره نیوکې

که څه هم د مرکه شوو زده کوونکو فعالینو (۴۰) سلنې د کرزي د ادارې په اړه مثبتې نظریې درلودې، خو کله چې د ناقانونه ډلو فعالین له دې ډلې وباسو نو دا سلنه (۵۰) ته لوړېږي ( څوارلسم جدول). د کرزي په حکومت باندې ځانګړې نیوکې د هغه په حکومت کې د فساد پراخوالی وو، چې زده کوونکو د هغه په اړه د نظر یووالی او اتفاق درلود. په داسې حال کې چې ځینو مرکه شوو پخپله کرزی ملامتاوه، نورو د هغه دا کار تر نیوکو لاندې نیوه چې‌خپلې شا او خوا ته یې فاسد او خاین کسان را ټولول:

*زه د کرزي په وخت کې د افغان حکومت څخه ډېر خوشاله نه وم. لکه چې پخوا مې وویل، هغه تخصص ته ډېره پاملرنه نه کوله. د حکومت مامورین په بډو او د فساد په نورو بڼو کې ښکیل وو. هغوی خپل خپلوان په دندو ګومارل، او هیڅ یوه ئې تحصیل او تخصص نه درلود[۹ ، د جنبش فعال، مزارشریف].*

*هغه ښه سړی وو، خو خپله کابینه ئې کنټرول کولای نشوه. هغه ۱۳ کاله د جمهور رئیس په توګه کار وکړ، خو ښه کاریې ترسره نه کړ. زما نظریې، له ځینو خلکو سره چې د هغه کړنې خوښوي، تو پیرلري. خو زه منم چې هغه ښه سړی ده، خو شه لارښود نه ده . [۳ ، د اسلامی جمعیت فعال، مزار شریف].*

څوارلسم جدول: د غني او کرزي په هکله د زده کوونکو فعالینو ارزونه

| | ټول | غیرقانوني | قانوني، حکومتي ضد | قانوني ، حکومت پلوه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر |
| د غني په هکله مثبته ارزونه | ۴۷.۸ | ۲۲ | ۸.۳ | ۱ | ۴۰.۰ | ۴ | ۷۰.۸ | ۱۷ |
| د کرزي د دورې په هکله مثبته ارزونه | ۳۹.۱ | ۱۸ | ۱۶.۷ | ۲ | ۲۰.۰ | ۲ | ۵۸.۳ | ۱۴ |
| ټول | | ۴۲ | | ۱۲ | | ۱۰ | | ۲۴ |

## د غني د ادارې په اړه دریځ

د دغو مرکو په وخت کې (د ۲۰۱۴ کال له وروستیو څخه د ۲۰۱۵ کال تر لومړیو پورې)، ولسمشرغني لا هم د شهرت په اوج کې وو. د حکومت پلوه فعالینو تر نیمو ډیرو د هغه د کړنو په اړه ښې نظریې لرلې ( څوارلسم جدول). د هغو ګوندونو ملاتړ چې د ټولټاکنو د کمپاین ائتلافیان یې وو، ځرګند ده، خو هغه په عین حال کې په مرکوکې حتی د اسلامي جمعیت او وحدت د فعالینو له خوا ښې نمرې تر لاسه کړې ( د عبدالله په ائتلاف کې ګوندونه):

*[غني] متخصص بریښي. زه فکر کوم چې هغه به دې هیواد ته په زده کړې، اقتصاد او داسې نوروکې ډیره وده او انکشاف را مینځ ته کړي. زما په نظر هغه یو صادقسړی ده او هغه به هرڅه چې له لاسه ئې پوره وي ددې هیواد لپاره ترسره کړي ... زه پوهیږم چې د هغه پریکړې به د کرزي په پرتله ډیرې ښې وي[۳ ، د اسلامی جمعیت فعال، مزار شریف].*

*حقیقت دادی چې د افغان په حکومت کې ډیرې بې وسۍ او نا کامۍ لکه په مهمو څوکیو کې د فاسدو کسانو شتون، شته وې، خو دا ستونزې ورځ تر بلې لړېږي. د کرزي په حکومت کې، یوې ناکامۍ وجود درلود چې هغه داوه چې ډیر لږ کسان هغه ته وفادار ول، او نورو د خپلو ګټو لپاره هڅې کولې. دا په افغان حکومت کې د فساد عمده لامل وو. زه باید هرومرو ووایم چې فساد به ډیرژر له منځه ولاړشي. تاسو ته په دې اړه ډاډ درکوم[۱۴، د اسلامی جمعیت فعال، مزار شریف].*

*زما په نظر، د افغانستان نوی جمهور رئیس، داکتر اشرف غني احمدزی، تر اوسه ډیر ښه کارونه کوي. که څه هم د جمهوری ریاست په ټاکنو کې د هغه پلوی نه وم او ډاکتر عبدالله ته مې کار کاوه، خو اوس مې باور داده چې اشرف غني هم د افغانستان جمهوری ریاست ته وړ سړی ده. هغه د نوي نسل لپاره ښې نظریې لري، او هغه به له ښولا روڅخه ددې هیواد لارښوونه وکړي. هغه به هوساینه او خوشالي زموږ هیواد ته راوړي[۱۱، د اسلامی جمعیت فعال، کابل].*

تریوې برخې، کیدای شي داسې مثبتې ارزونې د ملي وحدت د حکومت له جوړیدو څخه رامینځ ته شوي وي:

*په حقیقت کې ما د جمهوري ریاست په ټولټاکنو کې د هغه ملاتړ ونه کړ. ما د ډاکتر عبدالله پلوي کوله. ما په ریښتیا غوښتل چې هغه زموږ جمهور رئیس شي. په هر حال، دواړو د متحد حکومت په اړه هوکړه کړې ده. زه باور لرم چې هغوی به یوځای لوبه دهنده ترسره کړي. جمهور رئیس غني هم روڼآندی سړی دی. هغه هم ددې هیواد د لارښوونې لیاقت لري. هغه خپله دنده ډیره ښه پیل کړې ده. موږ د پایلو په انتظار کې یو. تاریخ به د هغه په اړه قضاوت وکړي[۱۰، د اسلامی جمعیت فعال، کابل].*

یوه جلا آواز غني او د ملي یووالي حکومت ته خبرداري ورکړه چې حکومت خورا لوړ الوتل کوي، او ددې هیواد ستونزمن حقایق هیروي:

*کله چې امان الله خان د افغانستان خپلواکۍ ترلاسه کړه، د دې پرځای چې غښتلی لښکر جوړکړي د خلکو د ژوند ښه والي ته یې کارپیل کړ. تر ټولو ړومبی، موږ اړیو چې په افغانستان کې ستر اردو، پولیس او امنیتی ځواک ولرو، وروسته کولای شو د خلکو ژوند ته په ښه ډول سمون ورکړو[۱۳، د اسلامی جمعیت فعال، کابل].*

په عمومی توګه، داسې ښکاري چې حکومت پلوي فعالینو د شته حالت د ساتلو او سیاسي ثبات په هکله اندېښنې لرلې، نه د کوم ځانګړي ګوند او ایدیولوژی په اړه.

د یو ډیر اسلامي حکومت سیستم جوړول، د دغو اسلام پلوه فعالینو لپاره، یوه ډیره لیري موخه ښکاریده.

## د زده کړې له سیستم څخه ناهیلي

د حکومت پلوه مرکه شوو لوی اکثریت د زده کړې د سیستم په اړه مثبتې نظریې وړاندې کړي دي. یوازې د اسلامي جمعیت د ګوند له فعالینو څخه نیوکې واوریدل شوې:

*زما د معلوماتو پر اساس، له حکومت څخه زموږ د تمې په پرتله، د افغانستان د زده کړي سیستم سم جوړ شوی نه ده. او سنی سیستم ډیر کمزوری دی. په حقیقت کې، د ښوونکو لویه برخه زده کوونکو ته د تدریس لپاره مناسب نه دي. ځینې ښوونکي نوي له دوولسم ټولګي څخه فارغ شوي دي او په ښوونځیوکې د ښوونکو په حیث ګومارل شوي دي. موږ پخپله ښوونځیوکې د دا ډوله نالایقه (بی استعداده) ښوونکو د شتون شاهدان یو. زموږ حکومت باید دې موضوع ته سمه پاملرنه وکړي، ځکه چې د زده کوونکو لپاره د زده کړې سیستم ډیر اهمیت لري. هغوی باید دا ستونزه حل کړي[۱۱، د اسلامي جمعیت فعال، کابل].*

*که ریښتیا ووایم، زه د افغان زده کړې له سیستم څخه رضایت نه لرم. موږ په نړیواله کچه زده کړې نه کوو. زموږ په کتابونو کې نوي او تازه معلومات نشته. موږ باید د لویدیز د زده کوونکو په شان زده کړې ولرو. هغوی د زده کړو نوي او عصري مواد لري. ددې تر څنګ، زموږ ښوونکي باید روڼآنده او تخصصی خلک وي[۳، د اسلامي ګوند فعال، مزار شریف].*

د مرکه شوو له کتار څخه یو تن چې په ښوونکو باندې د زده کوونکو د ښکاره نیوکو د توجیه کولو په اړه، ډیر په غوسه وو داسې وویل:

*زده کوونکي په ښوونکو، خو په ټولونه، نیوکې کوي. موږ یوازې په هغو ښوونکو نیوکې کوو چې ښوونکو په څیر لازم استعداد نه لري او په حکومت کې د لویو چارواکو په ملاتړ ګومارل شوي دي[۱۱، د اسلامی جمعیت فعال، کابل].*

*ښائي دا ښاري تاجیکان د زده کړې په اړه، د هغو کسانو په پرتله چې له محلي ټولنو څخه راغلي او تر ۲۰۰۱ کال پورې یې زده کړو ته لاسرسی نه درلود، ډیرې تمې لري (د شمال لویدیز ازبکان او هزاره ګان).*

# ۵. د سیستم د ننه ګوتنیوونکي

د قانوني ثبت شوو ګوندونو په فعالینو کې د داسې کسانو موندل چې د حاکمیت د نخبه ګانو مخالف وي، ستونزمن کار وو. د څېړنې د ډلې موندنه داده چې د سیاسي سیستم له دننه څخه "اعتراض کوونکي " درې ډوله دي، دوه یې (محافظه کاره بنسټپال اتحاد/ دعوت اسلامي ګوند[۱۶]، او د روند سبز "لوي ګوند ") ادعا کوي چې د سیاسی اسلام د اصلی مسیر برخې جوړوي. دریمه ډله یوه غیر سیاسي ډله ده چې جمعیت اصلاح[۱۷](۱۸) نومیږی، او د اسلامي ارزښتونو د ودې لپاره کارکوي:

*زموږ موخه داده چې په افغانستان کې ټولو مسلمانانو، په تیره بیا ځوانانو ته د اصلاح د جمعیت د کورسونو له لیارې چې په ټول افغانستان کې جوړیږي، زده کړې ورکړو. موږ د قرآن د تفسیر، د قرآن د حفظ او د حدیث اوفقه د زده کړو لپاره کورسونه لرو[ ۴۸ ،د اصلاح د جمعیت فعال، کندز].*

په عمل کې د نوموړي جمعیت فعالیتونه او موخې قوي سیاسي محتویات لري:

*د زده کوونکو ډیری زموږ له سیاسي نظریو سره مینه لري. موږ داسې زده کوونکي لرو چې په کمونیستو کورنیو پورې اړه لري او زموږ د اسلامي نظریو سره مخالفت لري، زموږ نور زده کوونکي هغه افغانان دي چې د امریکائیانو او غربیانو لپاره کارکوي .... ما پر بیت المقدس باندي د اسرائیلو دیرغل او د افغانستان او متحده ایالاتو ترمینځ د امنیتی تړون د لاسلیک پر ضد اعتراضي غونډې جوړې کړې دي [ ۴۸ ، د اصلاح د جمعیت فعال، کندز].*

*حزب التحریر په ښوونځیو کې ډېر فعال ده او د اصلاح له جمعیت سره د وروګلوی اړیکې لري. د تحریر ګوند یوه ستونزه لري: هغوي ثبت نه دي نوځکه د ملی امنیت اداره ( NDS) او د کورنیو چارو وزارت (MoI) هغوی زوروي او په تروریزم یې تومتي کوي [۱۷، د اصلاح د جمعیت فعال، کابل].*

*زما پلار د ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوند غړي وو. له حزب څخه زما د پلار یو ملګری چې اوس د اصلاح د لارښوونکې دلې غړی ده، زه له اصلاح سره یو ځای کیدو ته وهڅولم، ځکه چې حزب او اصلاح یو شان ایدیولوژي لري... موږ نږدې د ټولو جهادی مشرانو، د پخوانیو طالبانو په شمول چې زموږ فعالیتونو یې په افغان ځوانانو باندی اغیزمن ګڼل، هڅول کیږو [ ۲۰ ، د اصلاح د جمعیت فعال، کابل].*

د اصلاح جمعیت د ځوانانو په مینځ کې د ځینو له خوا ، تر ټولو ډیرفعال او ښه منظم سیاسي ډله ګڼل کیږی[۱۸].

په دي سروې کې د مرکه شوو له کتار څخه هیڅا په غیر مذهبي، غیر حکومتي ډلو پورې اړه نه درلوده. کله چې په دې اړه پوښتنه وشوه، یوه ښوونکي داسې ځواب ووایه:

*لیبرالي ایدیولوژیګاني له اسلامي ایدیولوژۍ سره تضاد لري، نوځکه د اسلامي ډلو په پرتله د لیبرالانو فعالیتونه یخ ښکاري. اسلامي ډلې فعالې دي،نو ځکه زده کوونکي دغو ډلو ته ورځي [۴۲ ، ښوونکی، پروان].*

نوموړي ښوونکي په روښانه ډول وویل چې غیر مذهبي ډلې له مسلط فرهنګ او سیاسي تمایلاتو سره انطباق نه لري. د ضمیمه سروې موندنې هم،چې په جلا ډول د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ( AREU) له خوا چاپ شوي دي، دا موضوع تاییدوي. په هرحال، باید وویل شي چې ډیرځانګړي غیرمذهبی افراد علاقه نه لري چې له سیاسي ګوندونو سره یو ځای شي او یا سیاسي ګوندونه جوړکړي، هغوي د مدنې ټولنو له جوړښتونو سره مینه لري[۱۹].

۱۶ د دعوت اسلامي ګوند چې پخوا د اسلامي اتحاد په نوم یادیده په ۱۹۸۰ کال کې د پروفیسور رسول سیاف، د ۱۹۷۰ کلونو د اسلامي جمعیت د یوه لارښوونکی، له خوا تاسیس شو. ددې ډلې خصوصیت د افغانی اسلامیزم د نورو ډلو په پرتله، د سعودي عرب د وهابي نظریاتو سره نږدیوالی دی. دا ډله د ۱۹۸۰ کالونو د مقاومت په خوځښت او د ۱۹۹۰ کلونو په کورنیو جګړو کې ښکیل وو. نوموړې ډلې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو پرضد ائتلاف کې ګډون درلود، او په نتیجه کې، د کرزي د اداري په لومړیو کې د هغه غړو ته په حکومت کې د جایزې په ډول ځای ورکړل شو. له جمهور رئیس کرزي سره د سیاف د شخصي نږدیوالي سره سره، نوموړی ډله په تدریجی توګه له رسمي ځوکیو څخه، د غربیانو د فشار په دلیل، څنډې ته شوه (د دغې ډلې نظریې اکثره د غرب پلوه سمونپالو له نظریاتو سره توافق نه لري). کیدای شي ووایو چې د ۲۰۱۴ کال په وروستیو کې نور نوموړې ډله له حکومت څخه جلا شوې و ګڼل شي چې ډیری وخت له هغه سره په مخالفت کې ده. سیاف په ۲۰۱۴ کال کې د لوړې محافظه کارانه کرښلارې تر بیرغ لاندې د جمهوری ریاست ځوکۍ ته نوماند وو.
۱۷ د دغه ګوند پوره نوم د افغانستان د اجتماع د اصلاح او انکشاف جمعیت ده، د ۲۰۰۴ کال په شا او خوا کې د تخار د ولایت هاتف الرحمن له خوا تاسیس شو. دا ګوند له نیوکونیولو څخه پیل او د افغان د اسلامي خوځښت په یوه لویه برخه واوښت.دغې ټولنې انتقادي دریځ په ۱۹۸۰ کالونو کې غوره کړې ده. دغه جوړښت ښه تمویلیږی او په هرات کې د یوه تلویزونی چینل او کابل کې د یوې را دیو په شمول، مختلفی رسنۍ اداره کوي. دا جمعیت یو خصوصی (خو ثبت شوی) د ښوونکو د روزنې انستیتوت هم لري. دا جمعیت د اخوان المسلمین دودیز وارث دی او داسې معلومیږي چې د اسلامي ګوند ډیر غړي او مینه وال یې ځانته جذب کړي دي. نوموړې ډله په عمده توګه د ځوانانو یوه څانګه لري چې د نهاد جوانان مسلمان (د مسلمانو ځوانانو جوړښت) په نوم یادیږي.
۱۸ کیسي جانسن (USIP) شخصی نظري، د ۲۰۱۵ کال جولای میاشت.
۱۹ کیسې جانسن(USIP) شخصی نظریې، د ۲۰۱۵ کال جولای. دا اندیښنی ښایې د لوړو ښوونځیو د زده کوونکو په پرتله د پوهنتون په زده کوونکو ډیر انطباق ولری.

## ۵.۱ د ګومارنو بېلګې

د نوو غړو پیدا کول د حکومت پلوه ګوندونو په پرتله د غیر حکومتي ګوندونو لپاره ستونزمن کارده، که څه هم هغوي تر اوسه په پوره توګه مشروع جوړښتونه دي. داسې ریپوټونه شته چې د زده کړو له جوړښتونو له خوا دغچ اخیستلو له ویرې ځینی کسان له هغوي سره د یوځای کیدو څخه ډډه کوي:

*هو، هغوی زموږ ځینې سیاسي نظریې خوښوي، خو هغوی نه غواړي له موږ سره د یو ځای کیدو له کبله له ستونزو سره مخامخ شي. ځینې کسان شخصي ستونزې لري، په داسې حال کې چې نور بیا دا کار ناقانونه ګڼي، نو ځکه نه غواړي چې په داسې فعالیتونوکې شکیل شي. هغوی باید زما په شان خطر و مني [۱۲ ، د روند سبز فعال، کابل].*

که داسي و ګڼل شي چې یو څو مرکه شوي په دې ډلې پورې تړلي دي، وړ نه ده چېپه دې اړه اندیښنه وشي چې د ګومارنې ډیرې عامې بیلګې به کومې وي. په هرحال، لږترلږه په نویو ګوندونو کې، عمودي ګومارنې، د باالنسبه زړو حکومت پلوه ګوندونو په پرتله ډیرې عامې بریښي، ځکه چې د زاړه نسل ډیرې کورنۍ به نه وي چې خپل اولادونه پرګوند باندې تحمیل کړي.

*لږ خلک شته چې د روند سبز غړیتوب ولري. هغوی په مختلفو ټولګیو کې دي. د هغوی له جملې څخه یوه زه ګوند ته جذب کړم؛ پخوا ، زه د دغه ګوند په هکله په څه نه پوهیدم هغه ماته د ګوند موخې تشریح کړې، او ما داموخې ښې و ګڼلې، نو ځکه ورسره یوځای شوم [۱۲، د روند سبز فعال، کابل}.*

## ۵.۲ سیاسي نظریې

### د لویدیځ حضور

د حکومت ضد بنسټپالان د غرب نفوذ د فساد عامل ګڼي [۳۲، د اسلامي دعوت فعال، بغلان]:

*افغاني ټولنه باید بدلون ومومي. اوسني جاري بدلونونه په بیساري توګه منفي دي. د راوروسته کلونو بدلونونه باید بیرته ټول شي ...غربیان په افغانستان کې عمده ستونزه ده. هغوي دلته دي چې زموږ ټولنه ویجاړه کړي، نو هغوی باید له افغانستان څخه ولاړشي. د غربیانو د شتون له کبله زموږ په هیواد کې هره ورځ نا امني او وژنې دي. هغوی باید ژر ولاړشي [۴۸ ، د اصلاح د جمعیت فعال، کابل].*

*غربیان ځکه زموږ په هیواد کې دي چې خپلې مذهبی، فرهنګي، او سیاسي موخې ترلاسه کړي. موږ په افغانستان کې د غربیانو ملاتړ ته ضرورت نه لرو [۱۷، د اصلاح د جمعیت فعال، کابل].*

*موږ وینو چې افغانۍ رسنۍ څومره غربي شوي دي. په تلویزیونونو کې څومره ډیر سندرغاړي او بې معنا پروګرامونه دي چې د خلکو وخت ضایع کوي [۳۰ ، د اصلاح د جمعیت فعال، کابل].*

د دغو فعالینو ځینی افرادو ویل چې د لویدیز مداخلې افغانستان ته یو لړ ښیګڼې هم وکړې، خو سره له دې هغوی فکر کاوه چې ګټې یې د ویجاړولو په پرتله ډیرې لږ وي:

*لویدیز په ځینو برخو کې له موږ سره مرسته وکړه خو هغوی زموږ ټولنه په ربښتیا سره ویجاړه کړه. موږ یوه اسلامي ټولنه یو او غواړو یوه اسلامي ټولنه پاتې شو. خو لویدیزوال د ښځو د حقونو او مدني ټولنو د ملاتړ له لیاري هغوي هڅوي چې د خپل دین او دود په وړاندې آواز لوړکړي [۲۰ ، د اصلاح د جمعیت فعال، کابل].*

برعکس، د روند سبز فعالین د حکومت پلوه اسلامیستانو نظریه چې د لویدیز شتون یوه اړتیا ګڼي، تبلیغوي:

*زما هیله داده چې زموږ خپل اردو د دې قوت پیدا کړي چې پخپلو پښبوودریږي، ترڅو د بهرنیو ځواکونو د شتون ضرورت له منځه ولاړشي. همدا اوس، زه فکر کوم چې د هغوي شتون غوره دي، ځکه چې موږ به پرنورو موضوعاتو د تمرکز وخت پیدا کړو [۱۲، د روند سبز فعال، کابل].*

دغه فعالین ادعا کوي چې د اسلام په هکله داسې نظریې ته بڼه ورکړل شي چې هم د لویدیز لپاره ډیره د منلووړوي او هم موږ واقعي اسلام ته ریښتوني او وفادار پاته شو:

*نن ورځ، د توطئې تیوریګانې وایي چې مسلمانان د تروریستي حملو مسؤل دي... خو په هرحال دا خبره هومره له حقیقت څخه لیرې ده چې موږ پرې پوهیږو. که چیرې، نن ورځ طالبان تروریستي بریدونه کوي، دا هغه څه نه دي چې اسلام یې غواړي. هغوی باید وپوهیږي چې طالبان لاس پوڅي دي، او دا چې هغوی په دې هم نه پوهیږي چې اسلام څه ته وایي. هغوی مازېښځه کوي چې اسلام بدنومې کړي. دا هم زما هیله ده چې سباته زه د افغانستان په سیاست کې یو قوي او غښتلې سړی شم ترڅو لویدیز مدنیت ته ور وښیم چې د اسلام معنا کومه ده. هغوی باید و پوهیږي چې د اسلام معنا سوله ده نه جګړه [۱۰، د روند سبز فعال، کابل].*

## د ښځو حقونه

لکه چې تمه کېده، بنسټپاله مرکه شوو کسانو د لویدیز په مفهوم د ښځو حقونو په لارکې وده، یو منفي پرمختک وګاڼه:

*افغاني ټولنه یوه مذهبي ټولنه ده. خلک د ټولو هغو شیانو په وړاندې چې له اسلامي ارزښتونو سره مخالف وي عکس العمل ښیي. موږ وینو چې حکومت ښځو ته د آزادۍ په ورکولو کې غلط کار کوي، او ډیر ناوړه انکشافات پیل شوي دي ... موږ د زده کړې په سیستم باندې کوم اعتراض نه لرو، خو ځوانې نجونې او هلکان په پوهنتون کې یوځای دي او د اسلامي حجاب مراعات نه کوي [ دجامو مقرره] ۳۲، د اسلامی دعوت فعال، بغلان].*

یوه مرکه شوي د ښځو د حقونو په ملاتړو نیوکه وکړه او هغوی یې سودغوښتونکي و بلل:

*هو، ما د دغو مدني ټولنو او د ښځو د حقونو ډلو فعالیتونه لیدلي دي، هغوی له سفارتونو څخه پروژې اخلي او مازې پیسې لاس ته راوړي. هغوی کومې اسلامي یا ایدیولوژیکي نظریې نه لري[۲۰ ، د اصلاح د ټولنې فعال، کابل].*

د اصلاح ټولنه د ښځو یوه ډیره فعاله برخه لري ( چې د اصلاح د خویندو په نامه یادیږي) ، چې د ښځو په چاروکې له یوه ډیر محافظه کار دریځ څخه ملاتړ کوي[۲۰]. برعکس، د روند سبز فعالین په دې اړه هغه نظریې تائیدوي چې حکومت پلوه اسلامیستان یې لري:

*موږ هم د ښځو د حقونو په اړه خبرې کوو، ځکه موږ نه غواړو د هغوی حقونه ضایع شي. نن ورځ ښځې په تیره بیا په لیری سیموکې په ډیر بد حالت کې ژوند کوي[۷، د روند سبز فعال، کابل].*

## د غني او کرزي په اړه دریځونه

د حکومت پرضد بنسټپالان، ولسمشر غني د غیر مذهبي (سیکولار) شخص په توګه ردوي او ځینې وخت له کرزي سره خوا خوږي ښیي، چې د ۲۰۰۱ او ۲۰۱۴ کلونو تر مینځ ئې په پرله پسې توګه له په اصطلاح "مجاهدینو" سره ګرمې اړیکې درلودې ) څوارلسم جدول هم وګورئ ):

*غني په لویدیزه ایدیولوژي باورلري، هغه په افغاني ټولنه کې مهم ځای نه لري... کرزي ښه سړی وو، ځکه چې له مجاهدینو سره یې ښې اړیکې درلودې، که څه هم د افغانستان په بیا جوړونه او بیا رغونه کې یې کومه مهمه ونډه نه درلوده [۳۲ ، د اسلامی دعوت فعال، بغلان].*

برعکس، د روند سبز دغه فعال د غني د تیرو کړنو په اړه خورا لوړې خبرې وکړې:

*که ریښتیا ووایم، زموږ د څیړنو پربنسټ، غني هم ددې هیواد د لارښوونې لیاقت لري، ما په ټاکنو کې داکتر عبدالله عبدالله ته رایه ورکړه ... ما په غني ددې حساب نه کاوه چې د هیواد لارښوونه وکړي. خو اوس، هغه ډیر ښه بریښي. زه فکر کوم چې لا تراوسه ډیر وختي ده چې پرهغه قضاوت وکړو. پریږدئ چې د هغه په اړه پنځه کاله وروسته قضاوت وشي، نو بیا به خبرې وکړو چې هغه هیواد ته څه کړي دي. په هرحال، زه هیله لرم چې هغه هیواد ته لا پرمختګ ور په برخه کړي، چې افغانستان ډیره اړتیا ورته لري [۷، د روند سبز فعال، کابل}.*

## د اورپکوپر وړاندې دریځونه

د روند سبز فعالین له اورپکو سره سخت مخالف دي، ځکه چې د هغوی لارښوونکی، امرالله صالح د ملي امنیت پخوانی رئیس، شورشیانوسره ډیر ضدیت لري. برخلاف، د اصلاح جمعیت فعالین، سره له دې چې قانونې ډله ګڼل کیږي، له شورشیانو سره خوا خوږي نه لري – د نظام ضد زده کوونکي چې شورشیان یې نه غندل ( د ټولو ۴۰ سلنه) ټول په همدغې ډلې پورې تړلي وو ( دیارلسم جدول).

---

۲۰ کیسی جانسن(USIP) شخصی نظریه، د ۲۰۱۵ جولای.

*مونږ د یرغلګرو په وړاندې له هر ډول وسله وال مقاومت څخه ملاتړ کوو. موږ په اصلاح ټولنه کې د افغان د امنیتي ځواک (ANSF) په وړاندې د هغوی د جګړو په هکله بحث کوو، موږ نشوکولای د افغان امنیتي ځواک په وړاندې د هغو په جګړه تبصره وکړو، خو د افغان امنیتي ځواک په مشرتابه باندې د هغوی د بریدونو ملاتړ کوو[ ۴۸، د اصلاح د ټولنې فعال، کابل].*

*که د هغوی مقاومت دیرغلګرو په وړاندی جهاد اوجګړه وي، نو د هغوی مقاومت د توجیه وړده[۱۷، د اصلاح ټولنه، کابل].*

*که هغوی له امریکائیانوسره جنګیږي، د هغوی وسله وال مقاومت عادلانه دي[۲۰، د اصلاح د ټولنې فعال، کابل].*

### د ملایانو ونډه

روند سبز، په ټولنه کې د ملایانو په رول د نظام پلوه اسلام پالو د اکثریت په شان فکرکوي:

*هو، ملایان تر اوسه هم په کلیو کې عمده رول لوبوي. هغه خلک چې زده کړې او منطق نه لري، لا تر اوسه د ملایانو په لارځي. ملایان مازې هڅه کوي چې خپل فکرونه په خلکو باندې تحمیل کړي. په کابل، مزار، هرات، او هغو ښارونو کې چې خلک زده کړې لري د ملایانو خبرې نه مني. په حقیقت کې موږ باید له خپل منطق، نه دي نورو له منطق څخه، کار واخلو. البته، داسې ملایان هم شته چې د آزاد فکر خاوندان دي، خو موږ مخکې تر دې چې هغو پسمی ولاړشو، لومړی فکر وکړو[۷ ، د روند سبز فعال، کابل].*

*اوس خلکو زده کړې تر سره کړې دي ، هغوی آزاد خیال لري، او پوهیږي چې څه وکړي، نو ځکه د ملایانو لارښوونو ته اړتیا نشته. نن ورځ، خلک له خپل منطق څخه ګټه پورته کوي. ښایي، ملایان په لیرې پرتو کلیو کې قوي رول ولوبوي، ځکه چې هلته لا تراوسه خلکو زده کړې نه دي کړې.[۱۲، د روند سبز فعال، کابل].*

سره له دی، د مختلفو تمایلاتو لرونکي افراطې اسلام پالان غواړي چې بل شان اوسي او ادعا کوي چېله تحولاتو سره د مخالفو ملایانو ملاتړي دي:

*البته، مذهبی عالمان باید د سیاست لارښونکي وي. که خلک و پوهیږي، نو ورته څرګنده به شي چې اسلامي ګوند یوازنی ګوند ده چې د هیواد د ښیګڼې لپاره کارکوي. موږ یوازې هغه څه کوو چې د هیواد او خلکو په ګټه وي[۲، د اسلامی حزب( حکمتیار) فعال، مزارشریف].*

*ملایان په افغانستان او هرې مسلماني ټولنې کې اغیزه لري. موږ په افغانستان کې دوه ډوله ملایان لرو. ۱) هغه ملایان چې د افغان او لویدیز استخباراتی ادارو لپاره کارکوي او د ملي امنیت د ادارې او مدني ټولنې له لیاري لویدیزو استخباراتی ادارو کې ګومارل شوي دي، ۲) موږ واقعی اسلامی عالمان ملایان هم لرو چې موخه ئې د افغانستان د خلکو روزل او چوپړکول دي، واقعی دینی عالمان د ډیر نفوذ خاوندان دي او د هغوی ونډه باید په افغاني ټولنه کې ډیره شي [۱۷، د اصلاح د ټولني فعال، کابل].*

د خپل شتون په لمړیو لسوکلونو کې، اسلامي حزب له روحاني چارو سره په ضدیت کې ډیر شهرت پیدا کړ. نن ورځ، له روحانیونو او مدرسوسره نږدې اړیکې لري، په دې توګه ښایې اسلامي ګوند خپله لاره سمه کړی وي؛ پورتنۍ اقتباس په روحانیونو باندې د حزب دوام لرونکی نفوذ څرګندوي.

## ۵.۳ دوه مخالفین

په عمومی توګه، "د سیستم د ننه اعتراض کوونکي" په ښکاره ډول په دوو ډلو ویشل شوي دي. له یوې خوا، د روند سبز "نوی ګوند "فعالین سیستم ته په داسی سترګه ګوري چې په کمزوري ډول اداره کیږی او په بشپړه توګه اصولپال نه ده. هغوی په ډیرو مواردو کې د اسلامي جمعیت فعالینو ته ورته دي، خو د هغوی د ملاتړ پالنې خصوصیت نه خوښوي. له بلې خوا بنسټ پالان دي چې د اوسني حالت مخالفت کوي، خو هیله لري چې کولای شي له سیستم څخه په ګټې اخیستنی سره شریعت پلی کړي؛ هغوی نه غواړي چې ټول سیستم را وپرزوي، ځکه چې ګټې ئې په سیتسم کې نغښتې دي. هغوی لکه روند سبز او سیستم پلوه فعالینو په شان د زده کړو د پرمختګ لیوال دي.

# ۲. له سیستم سره مخالفت: د افراطي مخالفینو فعالین

په دې څېړنه کې ډېره ستونزمنه دنده د ناقانونه ګوندونو له پټو فعالین سره مرکه وه. له هغوی سره چې بریالی مرکې وشوې ډېر د حزب التحریر فعالین وو ( اوه کسان)، یوه فعال په اسلامي حزب پورې اړه درلوده، درې د طالبانو فعالین، او یو غړی د ( فیضانیانو )[۲۱] له غیر ګوندي موسسې څخه وو، چې ټول ئې دولس کسان کیږي.

## ۲.۱ جلب او جذب

ناقانونه ګوندونو ته جذب او ګومارل د قانوني ګوندونو په پرتله، په تیره بیا چې حکومت پلوه وي، ډېر ستونزمن او سخت کار دی. د "سیستم مخالفو " ډلو سره مرکوڅرګندده کړه چې هغوي باید د جذب په وخت کې خورا ډېر احتیاط وکړي:

*موږ هغو خلکو ته بلنه ورکوو چې په هغوی رښتینې باور ولرو. موږ هرچاته بلنه نه ورکوو چې له موږ سره یو ځای شي، له موږ سره یو ځای کیدل ډېر له خطر څخه ډک کار دي، ځکه چې زموږ ګوند د خلکو او حکومت له خوا خطرناک ګڼل کیږي. خو موږ کوم ځانګړی خطر نه لرو؛ موږ یوازې د یوه اسلامي او په شریعت ولاړ ګوند ته کار کوو... موږ یوازې هغه خلک چې زموږ له پوره باور څخه برخمن او د اوږدې مودې ملګري مو وي، ګوند ته را بلو، موږ په هر زده کوونکي باور نه کوو. باور وکړې کله چې پوره ډاډمن شولو چې هغه موږ ته وفادار ده او په راتلونکي کې موږ ته ستونزې نه جوړوي، نوبیا بلنه ورکوو چې موږ سره یوځای شي. موږ نشو کولای هر ملګري هر وخت خپل ګوند ته راوبلو. دا زموږ اصول دي چې له یو چا سره باید لږ ترلږه د دوو میاشتو لپاره ټینګ ملګري شو او ډاډ پیدا کړو چې موږ ته صادق دی، نو بیا ګوند ته د جذب لپاره رابلو [۲۱، د تحریر فعال، مزار شریف].*

لکه د حزب التحریرپه شان ګوندونو ته جذب یاد ښوونکو د هڅو پایله ده (پورتنی دریمه برخه وکورئ) یا د عمودي جذب نتیجه ګڼل کیږي:

*زما یو ملګری... د بدخشان له ولایت څخه ده. موږ ځیني وختونه د اسلام او په افغانستان کې د اسلام په هکله خبرې کولې، ما په افغانستان کې د اسلام په اړه خپله انګیزه هغه ته بیان کړه. نو هغه را څخه وغوښتل چې د افغانستان له حزب التحریر سره یوځای شم. پخوا ما د حزب التحریر په هکله څه اوریدلي نه وو. کله چې هغه د حزب التحریر د فعالیتونو په اړه خبرې وکړې، زه له دغه ګوند سره د یوځای کیدلو لیوال شوم، او په افغانستان کې د هغو د کارکولو لاره مې خوښه شوه [۴، د تحریر فعال، مزار شریف].*

ځکه چې دا ګوند په افغانستان کې نوی ده، نو د پلرونوله خوا د زامنو جذبول دیر لږ امکان لري. په حقیقت کې، یوازې دد دې ډلې له مرکه شوو زده کوونکو څخه مو د داسې فعالینو په اړه واوریدل چې له خپلو پلرونو سره ټکر او له هغوی سره په لوړغږ بحث کوي:

*کله چې زما پلار او کورنی خبره شوه، هغوی ډېر په غوسه شول او زه بې د زده کړو د دوام او له حزب التحریر څخه د لریوالی لپاره مزار ته ولیږلم، خو ځکه چې ما حزب التحریر سره ژمنه کړې وه چې نوموړې ډلې ته صادق اوسم، نو ګوند مې پرې نښود. کله چې مزار ته راغلم، نو په بدخشان کې مې د خپل ګوند له ملګرو سره تماس ونیو او مزار ته درا تګ کیسه مې هغوی ته وکړه. نو هغوی زه په مزار کې د حزب التحریر مسؤول ته معرفي کړم. اوس زه په مزار کې د حزب التحریر فعال یم [۲۱، د تحریر فعال، مزار شریف].*

په داسې حال کې چې حکومت پلوه ګوندونه یوبل زغمي، افراطي فعالین ادعا کوي چې د اسلامي جمعیت او د اسلامي حزب قانوني اړخ، او آن تردې چې له اسلامي دعوت ګوند سره، ډیرې ترخې له دښمنۍ څخه ډکې اړیکې لري:

*دا اسلامي ډلې فکر کوي چې موږ د هغوي ځای نیسو او د هغوی غړي جذبوو. زموږ موخه داده چې هغه کسان جذب کړو چې زموږ له ایدیولوژي سره توافق ولري [۳۶، د تحریر فعال، کابل]*

پورتنی فعال په دې اړه چې تحریر له نورو ډلو څخه غړي جذبوي، ځیني تجربې درلودې، او دی پخپله هم پخوا د اسلامي دعوت غړی وو. یوه بل مرکه شوي اعتراف وکړ چې مخکې له دې چې له حزب التحریر سره یو ځای شي، له اسلامی ګوند سره بې د یوځای کیدو په اړه فکر کاوه:

۲۱ د پخوانی مولانا محمد عطاالله فیضانی د مریدانو یوه ډله، چې د توحید حزب بنست یې ایښی ده. فیضاني د ۱۹۷۰ کلونو په کودتا کې د ګډون له کبله اعدام شو، خو ځیني پیروان یې د تعقیب له ویرې وتښتیدل. فیضاني هڅه وکړه چې صوفیسم او د علمی تکنولوژۍ عصریتوب سره یوځای کړي، او ادعایې کوله چې یوازې بشپړ اسلامي عالم کولای شي چې دغې موخې ته درسیدلو لار پیدا کړي. فیضانی شیعه او سني ګډ پیروان درلودل. هغه د ځوانان مسلمان سره نږدې وو، خو داسې څرګندیږی چې دا ډول نږدیوالی د نن ورځ فیضانیانو او د جوانان د ګوندونو د پیروانو ترمینځ وجود نه لري. د فیضاني ځینې او سني پیروان هغه "د مسیح مرستیال" ګڼي او دهغه د بیا راتګ په انتظار کې دي.

*ماله یوه سیاسي ګوند سره د یوځای کیدو په اړه فکر کاوه، خو په خواشینۍ سره چې هیڅ سیاسي ګوند لکه ، جمعیت ، جنبش، وحدت، او نورو د افغانستان او اسلام لپاره کار نه کاوه. هغوی یوازې د خپل موقف او په حکومت کې د څوکیو په اړه فکر کوي. هغوی هیڅکله په دې اړه فکر نه کوي چې څنګه واقعي او بشپړ اسلام په هیواد کې ټینګ او خلک په پوره مسلمانانو واړوي ... ما هم مخکې تر دې چې له حزب التحریر سره یو ځای شم، له اسلامي حزب سره د یوځای کیدو فکر کاوه، ځکه ما د تحریر ګوند په هکله هیڅ معلومات نه درلودل. یوازنی شی چې ما د اسلامي حزب په اړه نه خوښیدل دا موضوع وه چې اسلامي حزب د اسلام حقیقي لار خلکو ته د زور او جګړې له لیارې نبودله. په اسلام کې ، کله چې ته غواړې خلک اسلام ته راوبلې یا هغوی ته د پوره مسلمان کیدلو لار و ښیې، ته باید له هغو سره خبرې وکړې، بحث ورسره وکړې، د لایل او ثبوت وړاندې کړې چې ولې په نړۍ کې اسلام تر ټولو ښه دین ده. اسلام ته د خلکو را بلل په زور، جګړې او وژلو نه کیږي [۴ ، د تحریر فعال، مزار شریف].*

بنسټپال فعالین ادعا کوي چې له ستونزو سره سره، د جذب په لارکې د هغوی هڅې په اریانوونکې توګه بریالۍ دي:

*مخکې له دې چې زه په افغانستان کې د تحریر مشر شم، ما سوچ کاوه چې په داسې یوه هیوادکې، تحریر د دې توان نه لري چې په لنډ وخت کې ډیر جذب ولري، خو کله چې زه د تحریر مشر شوم زه د هغو ځوانانو شمیر چې په ښارونو کې د کلیو په پرتله له تحریر سره یوځای شوي وو، اریان کړم، په دې توګه اوس زموږ موخه ۵۰/۵۰ ده ... په پیل کې زموږ تمرکز د افغانستان په کلیوالو سیموکې وو، خو موږ باید په ښارونو کې تر مخکنۍ کچې ډیر فعال سو [۳۶ ، د تحریر فعال، کابل].*

## ۲.۲ موخې

حزب التحریر په نسبي توګه ښساری ګوند دی، ځکه چې هغه هم د افغانستان له حکومت او هم له طالبانو سره مخالف دی، تحریر د افغانستان حکومت غیر اسلامي او طالبان یوازې په افغانستان کې د اسلامي امارت د جوړولو په لارکې د لنډلید خاوندان ګڼي، له ایدیولوژیک نظره، حزب التحریر د اسلامي حکومت له ټولو ښو سره چې د خلافت له ټینګې ښیلګې څخه ملاتړ نه کوي، مخالف دی. نوموړی ګوند د افغانستان په ځانګړتیاوو باندې ترحد ډیر تکیه کولو په هکله زړه نازړه ده[۲۲]. په خلاصه توګه د مرکو پر اساس، د حزب التحریر منځ مهاله موخه له شریعت سره د مطابقت خواته د افغاني ټولنې رهبري کول دي [ ۵۰ ، د تحریر فعال، کندز، او په لاندې کې نورې اقتباس شوي خبرې]:

*موږ اړیو چې خلکو ته شریعت راولو. موږ اړ یو چې د هغو افغانانو مخالفت او مخنیوی وکړو چې په لویدیز کې وو ،خو له بل ډول نظریو سره بیرته افغانستان ته راغلي دي او هڅه کوي د افغان ولس نظرته هم بدلون ورکړي.... زه یو مذهبي سړی یم، او غټه موخه مې داده چې افغانستان کې یو واقعي او پوره اسلام راشي. زه پوهیدم چې یوازې څه نشم کولای؛ زه اړ وم چې له یوې ډلې سره یوځای شم ترڅو له هغو سره یوځای دلانبه اسلامي افغانستان لپاره کار وکړم. هرڅوک باید وپوهیږي چې همدا اوس، اوس په افغانستان کې څه حال ده. ته نباېې وپوهیږې یا نه، خو افغان خلک خپل اصلي دین هیروي او ورځ تر بلې ډیرد لویدیز دین خواته ځي [۴ ، د تحریر فعال، مزار شریف].*

*موږ د محمد پیغمبر سرتیري یو، او زموږ دنده ده چې مسلمان خلک بیرته خپل اسلامي دود ته راوګرځوو او په افغانستان کې شریعت ټینګ کړو. له حزب التحریر سره زما له ښکیل کیدو څخه شخصي موخه دا وه چې د خپلو نورو انډیوالانو ملاتړ وکړم چې په افغانستان کې خپلو موخوته ورسیږي [۲۱ ، د تحریر فعال، مزار شریف].*

*افغاني ټولنه بنسټیز بدلون ته ضرورت لري. د افغانستان ۹. ۹۹ سلنه خلک سني مسلمانان دی، ځکه موږ باید خپل اسلامي ارزښتونه یوځل بیا افغاني ټولني ته وړاندې کړو او د داسې بدلونونو وړاندیز وکړو چې اسلام یې غواړي. ټول بدلونونه چې په وروستیو کلونو کې را مینځ ته شوی باید هرومرو په هره بیه چې وي، بیرته له مینځه ولاړشي. په پیل کې زموږ شعار د افغانستان د امریکایي کولو او لویدیزکولو مخنیوی او درول وو. [۳۶ ، د تحریر فعال، کابل].*

*له دغې اسلامي ډلې سره زما د یوځای کیدو موخه په یوه اسلامي دولت د افغانستان بدلول، په افغانستان کې د لویدیزو هیوادو د دخالت له مینځه وړل، غلطو لارو څخه د خلکو مخنیوی، او په عوض کې د الله لپاره کارکول، دي [۴ ، د تحریر فعال، مزارشریف].*

د حزب التحریر دغه موخې د نورو غیرګوندي ډلو( فیضانیانو ) سره ډیر توپیر نه لري:

*زموږ موخه د قرآن شریف او محمد (ص) د احادیثو په رڼا کې اسلامي خپلواکي ده. موږ د زده کړې پروګرامونه لرو. موږ د نورو ګوندونو په شان نه یو، چې کړنې مو پر احساساتو او جذباتو ولاړې وي [۲۳ ، د فیضانیانو فعال، بغلان].*

د اصلاح د ټولنې ( د اصلاح جمعیت ) موخې له پورتنیو هدفونو سره یو شان دي:

۲۲ په کابل کې میشت سیاسي څیړونکی ، شخصي نظریې، د ۲۰۱۵ کال جولای.

*زموږ فعالیتونه د دې لپاره دي چې د خلکو پوهاوي لوړه شي او ځوان افغانان اسلامي زده کړې ترلاسه کړي، ترڅوکولای شي د روڼ آندو بحثونو له لارې، په افغانستان کې د لویدیز د مذهبي او فرهنګي یرغل پر وړاندې مبارزه وکړي [۱۷، د جمعیت اصلاح فعال، کابل].*

په هرحال، حزب التحریر، پخپلو اوږد مهاله موخوکې له مذهبي اتحادیو سره پوره توپیرلري، ځکه چې ادعا یې د خلافت تاسیس ده:

*زموږ موخه په اسلامي نړۍ اود اسلامي نړۍ په نورو برخوکې د خلافت بیا تینګول دي. په تحریرکې، موږ د قرآن او حدیث په رڼا کې په اسلامي نړۍ کې د لویدیز د تولنیز او اقتصادي سیستمونو د مینځه وړلوله لارې، زموږ خپل تولنیز – اقتصادي او مالي سیستمونه معرفي کوو. دا زموږ موخه ده [۳۶، د تحریر فعال، کابل].*

د دغې "اعتراض کوونکي" ډلې په مینځ کې عمده توپیر د بنسټپالو او اسلامیستانو ترمینځ پیدا کیږي:

*موږ په لوړو نبوونځیو کې، اسلامي مضمونونو ته ډیر اهمیت ورکوو، خو د اسلامي حزب زده کوونکي د ساینس مضمونونو ته ډیر اهمیت ورکوي.. همدا ډول موږ د افغانستان د پوهنې د وزارت له درسي نصابو سره مخالفت لرو، خو اسلامي حزب د هغو پرضد نه ده [۷۳، د طالبانو فعال، ننګرهار].*

## ۲.۳ فعالیتونه

د افراطي ډلو معمولي ورځنی کار جلب او جذب او منظمې ګوندي غونډې دي چې د فعالیتونو د همغږۍ لپاره جوړیږي؛ څرګندیږي چې افراطیان د حکومت پلوه ګوندونو د فعالینو په پرتله ژرژر سره ګوري[ ۲۱، د حزب التحریر فعال، مزارشریف].د ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ کلونو اسلامي ګوندونو په څیر، حزب التحریر د کلاسیک حجرې له مودل څخه ګټه پورته کوي. په هره حجره ( حوزه ) کې ۱۰- ۱۵ غړي لري چې دیوه مشرف ( لاربنوونکي یا مربي ) له خوایې لاربنوونه کیږي. له هغه ځایه چې نوموړي ګوندونه له افغان حکومت سره ثبت نه دي او هغوی ته د طالبانو او حزب التحریر له خوا د یوسیال په سترګه کتل کیږي، نو هغوي هم په هر سروي شوی ولایت کې د پټوالي له مختلفو درجو څخه کار اخلي. حزب التحریر په ننګرهار کې چیرې چې په نامتوجوماتونو کې او همدا ډول د ننګرهار په پوهنتون کې د مطالعې او څیړنې ډلې لري، ډیر فعال ده. له سروي شوو ولایتونو څخه بهر، حزب التحریر د طالبانو له دوديز ملاتړ زون څخه هاخوا ، په تیره بیا بدخشان، کاپیسا، پنجشیر او پروان کې تر ټولو غښتلې ډله ده، خو په سویل ختیز او سویل کې لږ ملاتړلري[23]. برسیره پردې، افراطیان یا د عبادت ډلې جوړوي چې زده کوونکي بیا مذهبي فعالیتونوته راواړوي [ ۲۳، د فیضانیانو فعال، بغلان]، یا د زده کړو په جوړښتونوکې د نفوذ لپاره کارکوي ترڅو په نوي نسل باندې اغیزه ولري( لکه د حزب التحریر په شان):

*یوازې ځینو مسلمانو ټولنو خپله لیاروکه کړې او لویدیز دودونه او فرهنګ کاپي کوي. موږ اړیوچې د داسې مسلمانانو په مینځ کې کاروکړو او بیرته یې افغاني دودونو او فرهنګ ته راوګرځوو؛ دا زموږ د ډلې دنده ده [۲۱، د تحریر فعال، مزارشریف].*

*په دې اړه یوه استثناء طالبان دي، چې عمده هدف یې په نبوونځیو کې له فعالیت څخه داده چې زده کوونکي د جګړو او د شورش لپاره د غیر نظامي ملاتړ په توګه جذب کړي [۷۲، ۷۴، ۷۳، په ننګرهار کې د طالبانو فعالین، وردک او زابل].*

## ۲.۴ سیاسي نظریې

### د لویدیځ حضور

په افغانستان کې د اسلامیستانو د فعالینو له خوا د لویدیز حضور سره دښمني د اریانتیا خبره نه ده. د لویدیز د مداخلې پرضد یو څو ځانګړې خبرې دادي:

*په افغانستان کې د هغوی د حضور لپاره هیڅ اړتیا نشته. هغوی دلته راغلي چې زموږ په ټولنه کې لویدیز ارزښتونه، او د مسلمانانو په مینځ کې لویدیز امپریالیستی ارزښتونه رواج کړي... هغوی زموږ په هیواد یرغل وکړ ترڅو خپل ارزښتونه او کټې پراخې کړي، او افغان ځوانان د زده کړې د لیرالو جوړښتونو د جوړولو له لیاری په خپل امپریالیستی فرهنګ باوري کړي [ ۴۹، د تحریر فعال، کندز؛ همدا ډول ۵۰ ، د تحریر فعال، کندز].*

*موږ په لسهاوو مسلمان کوچنیان، نبځې، او نارینه په افغانستان کې له لاسه ورکړل زموږ د ډلې یو اساسي ماموریت داده چې بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وباسو... اوس، افغانستان د بهرنیو ځواکونو او لویدیز له خوا اداره کیږي. هغوی د افغانستان لپاره جمهور رئیس ټاکي. دا هغه څه دي چې له ماڼې نفوذ څخه خورا ډیر دي [۲۱، د تحریر فعال، مزارشریف].*

---

[23] په کابل کې میشت څیړونکی، شخصي نظریه، د ۲۰۱۵ کال، جولای.

*زموږ عمده موخه یا انګیزه په دې وخت کې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو ایستل دي. موږ په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو سره مخالف یو؛ موږ د دې فاسد او د امریکائیانو له خوا جوړ شوي حکومت مخالف یو. زموږ موخه دا ده چې غیر اسلامي فعالیتونو څخه افغان مسلمانان وساتو [۴ ، د تحریر فعال، مزارشریف].*

د طالبانو فعالین په افغانستان کې د لویدیزو د شتون پرضد خپلو اظهاراتو کې لا ډیر قهرجن دي [۷۲،۷۳،۷۴ ، په ننګرهار، وردک او زابل کې د طالبانو فعالین]. په عمومي توګه، د افراطیانو فعالین د لویدیز له هرڅه سره مخالفت لري. هغوی په نمونه یې ډول، پخواني زاړه اسلامي ګوندونه او حکومت پلوه ګوندونه په فساد ، ناوړه ګټه اخیستلو ، او د اسلام له اصولو سره په خیانت کولو تومتي کوي:

*زه هیڅکله د سیاسي ګوندونو لکه جمعیت، جنبش، وحدت او داسې نورو په اړه فکر نه کوم، ځکه چې هغوی هغه جنایت کوونکي دي چې په افغانستان کې یې خورا ډیر جنایتونه کړي دي. د په افغانستان کې د امریکایي پوځونو د شتون اصلي عوامل د دغو سیاسي ګوندونو لارښوونکي ( رهبران) دي؛ ددې لامل چې امریکائیان افغانستان ته راغلل او د مسلمانو خلکو ذهنیتونو ته یې بدلون ورکړ همدغه مشران دي [۴ ، د تحریر فعال، مزار شریف؛ همدا ډول ۲۲ ، د تحریر فعال، بغلان].*

یو رادیکال افراطي داسې وایي چې غربي کیدل پر مختګ نه دی:

*افغاني ټولنه له غیر مذهبي او بې حجابه خلکو سره خورا ډیره مخالفه ده. د خلکو یوه ډله چې اسلامي ارزښتونه یې له لاسه ورکړي وي، په دې معنانه ده چې غربیان ادعا وکړي چې لاس ته راوړنې لري... اسلام د غربي فرهنګ پرضد ده ، اسلام داسې یو مذهب دی چې زموږ د ژوند د هراړخ لپاره پروګرامونه لري. موږ د لویدیز په معنا فرهنګ ته اړتیا نه لرو [ ۲۵ ، د تحریر فعال، بغلان].*

*زه فکر کوم چې افغانان ټول مسلمان خلک دي، خو ځینې جوړښتونه چې مدني ټولنې ورته ویل کیږي او دا ډول نورې ټولنې هڅه کوي چې خلک غلطو لارو ته وهڅوي او د خلکو ترمینځ عیسویت ته پراختیا ورکړي. زموږ د خوځښت دنده دا ده چې له داسې ټولنو سره د خلکو د مرستې مخنیوی وکړي، او ټولنې ته شریعت راوړي [۴ ، د تحریر فعال، مزارشریف].*

*غربي کیدل زموږ د هیواد او دین سره دښمني ده. موږ په ربښتیا سره له لویدیز څخه کرکه کوو. هغوی دلته ددې لپاره نه دي راغلي چې له افغانانو سره مرسته وکړي، هغوی دلته ددې لپاره راغلي دي چې خپلې سیاسي موخې لاس ته راوړي. هغوی په اسلام باندې منفي اغیزه لري. هغوی د خلکو په ضرر کار کوي ... افغاني ټولنه نږدې په فساد ککړه شوي ده. خلک اسلام ته ډیره پاملرنه نه کوي. دا هغه څه دی چې بهرنیو زموږ هیواد ته راوړي دي. د بیلګې په توګه، هغوی ډیری وخت الله د عبادت پرځای فیلمونه ګوري او موسیقی ته غوږ نیسی. دا ټولنه باید بدلون ومومي. اسلام باید نورهم پراختیا پیدا کړي. ترڅو چې دا بهرنیان دلته وي او زموږ خلک هوښیار نه شي، موږ باید پوره اسلامي ټولنې درلودونکي نشو ... موږ نه غواړو چې هغوی دلته وي [۲ ، اسلامی حزب ( حکمتیار ) فعال، مزارشریف].*

افراطیان پوهیږي چې اوضاع د هغوی په ګټه بدلیږي:

*پخوا د ( غربیانو ) اغیزه خورا غښتلې وه ، خو له هغه وخته چې بهرنې ځواکونو دا هیواد پریښود ، د هغوی اغیزه کمزوري شویاو موږ د خلکو په مینځ کې د اسلام د خپرولو له لیاري بریالي شوی یو [۴ ، مزار شریف].*

## د ښځو حقونه

هیڅ یوه مرکه شوي دې پوښتنې ته ځواب ورنه کړ ؛ یوه کس توضیح کړه چې داسې یو عنوان د اسلامي فعالینو ترمینځ د بحث وړنه ده:

*په عمده توګه، زموږ بحثونه د کفارو په هکله دي. موږ د ښځو د حقونو په اړه خبرې نه کوو. موږ تل هڅه کوو داسې لاره پیدا کړو چې بهرنیان دا هیواد پریږدي. [۲ ، د اسلامی حزب ( حکمتیار ) فعال، مزار شریف].*

د طالبانو یوه فعال داسې وویل:

*موږ د ښځو د حقونو په هکله بحثونه نه کوو. داسی ډیر شیان شته چې لومړی باید د هغو په اړه خبرې وشي. زموږ مشران هم موږ ته اجازه نه راکوي چې په داسې موضوعاتو خبرې وکړو... ښځو ته هغه آزادی چې امریکائیانو او غربیانو رواج کړې ده باید له مینځه ولاړه شي. موږ هغه ډول قوانین غواړو چې د طالبانو په وخت کې یې شتون درلود [۷۲، د طالبانو فعال، دایچوپان/ زابل].*

بل طالب فعال دا مساله په ډیر ظرافت طرحه کړه:

*موږ د ښځو له حقونو سره مخالفت نه لرو ؛ موږهم د ښځو حقونه منو. خو هغه څه چې امریکائیان او نور بهرنیان او اروپایې هیوادونه د ښځو د حقونو په اړه وایې، د ښځو حقونه نه دي. د ښځو حقونه هغه څه دي چې اسلام ئې ښځو ته ورکوي. له دې څخه ډیر، د موږ لپاره د قبول وړ نه دي [۷۴، د طالبانو فعال، وردک].*

## د ملايانو ونډه

د افراطي اسلاميستانو له نظره، د لويديزو د مداخلې د محتوياتو په مفهوم په ملايانو باندې د نيوكونيول له سياسي پلوه سمه نه ده:

*زموږ ملايان تل له موږ سره مرسته کوي، خو هغوی زموږ په ښوونځيو کې د ښوونکو په توګه کار نه کوي. لکه چې ما وويل، کيدای شي ملايان د نورو خلکو په پرتله، ډېر ښه لارښوونکي وي. ملايان او ديني عالمان زموږ لارښوونکي دي. زه بايد هرومرو ووايم چې ملايان د دې لامل دي چې نن ورځ موږ پخپل ځان و ياړکوو. موږ له هغوی پرته هيڅ شی نه یو. هغوی د موږ لپاره د ډېر ارزښت خاوندان دي. هغوی زموږ د دين څراغونه دي. په بله ژبه، هغوی زموږ ژوند روښانه کوي، او موږ له هغوی پرته په پوره تياري کې يو [۲ ، د تحريرفعال، مزارشريف].*

په همدې ډول، د طالبانو فعالين له ملايانو څخه په ټينګه ملاتړ کوي [۷۲،۷۳،۷۴، په ننګرهار، وردک، او زابل کې د طالبانو فعالين]. کله چې په ملايانو نيوکه کيږي، د هغو نيوکو سره فرق لري چې د حکومت پلوه ډلو او روند سبز له خوا پرهغوکيږي: ځينې وخت ملايان له امريکائيانو يا لاس پوڅي حکومت څخه پيسې اخلي.

*ځکه چې هغوي زموږ په ټولنه کې نفوذ لري، زه غواړم هغوی ته امامان ووايم. زموږ د افغاني امامانو ستونزه په دې کې ده چې ښې زده کړې او ښه معلومات نه لري. امريکائيان او افغان حکومت هغوی ته ددې لپاره پيسې ورکوي چې د هغوی سياسي هدفونه تعقيب کړي، او دا ښه کار نه ده. هغوی بايد واقعي امامان شي او له افغاني استخباراتي جوړښتونو څخه پيسې وانخلي [۳۶ ، د تحرير فعال، کابل].*

## د کرزي او غني دادارو په اړه دريځونه

د پخواني جمهور رئيس کرزي په اړه د افراطيانو نظريې يو څه فرق کوي. دا نظريې له ډيرې منفي ارزونې رانيولې بيا په نسبي توګه مثبتو ارزونو پورې په غيږ کې نيسي. په کرزي باندې يوه عمومي

نيوکه داده چې د امريکائيانولاس پوڅی ګڼل کيږي.

> *جمهور رئيس کرزی د لويديزو هيوادونو په تيره بيا د امريکائيانو ريښتني سپی وو. هغه امريکائيان زموږ هيواد ته راوستل. هغه په افغانستان کې اسلام په خطرکې واچاوه. زموږ ډله هم دکرزي پرضدوه [۲۱ ، د تحرير فعال، مزارشريف].*

*حامد کرزي د سی آی ای بل ټيټ پوړی ماموردي. د امريکې پرضد د هغه خبرې مازې ټوکي دي؛ هغه ته ويل شوي ووچې د امريکائيانو پرضد خبرې وکړي [۳۶ ، د تحرير فعال، کابل].*

په کرزي باندې بله نيوکه دا وه چې هغه خپلې شخصي ګټې د هيواد د ګټو په پرتله، ښې ګڼلي:

*کرزی بې له پيسو او قدرت په هيڅ شي باور نه لري. هغه دوه اړخيز امنيتي تړون د الله لپاره لاسليک نه کړ، بلکې ددې لپاره يې لاسليک نه کړ چې د هغه شخصي غوښتنې د امريکائيانو له خوا ونه منل شوې [۲۵ ، د تحرير فعال، بغلان].*

په هر حال، ځينې افراطي فعالين په وروستيو کلونو کې د امريکې پرضد د هغه د دريځ قدرکوي:

*کرزي په پای کې ، کله چې د امنيتی تړون له لاسليک څخه ډډه وکړه، لويه دنده ئې تر سره کړه [۲۲ ، د تحرير فعال، بغلان].*

*زه بايد ووايم چې جمهور رئيس کرزي دې هيواد او دهغه خلکو ته ډير ښه خدمت وکړ. موږ بايد هغه څه له ياده ونه باسو چې هغه د افغانستان د ښه والي لپاره کړي دي. خو د يادونې وړده چې موږ نه غواړو چې هغه بهرنيو ته اجازه ورکړي چې په دې هيواد کې ميشت شي. دا د اسلام سپيڅلې دين ته سپکاوي ده. دا بهرنيان، افغان خلک نه پريږدي چې پر مختګ وکړي. هغوی له هر فرصت څخه بده ګټه پورته کوي. هغه بايد بهرنيان له دې خاورې څخه شړلي واي، خو دا کاريې ترسره نه کړ... مونږ د هغه د داسې پريکړې مخالف وو [۲ ، د اسلامی حزب ( حکمتيار ) فعال، مزار شريف].*

لکه چې تمه کيده، د تحرير ټولو فعالينو جمهور رئيس غنی ته لږ علاقه وښوده:

*يو بې ګټې او غير مسلمان جمهور رئيس. جمهور رئيس غني مسلمان نه ده. د هغه ميرمن مسيحي ده، او پخوا ، پخپله دی هم يو عيسوی وو. دا څنګه امکان لري چې يوه عيسوي کورنۍ د يوه اسلامي حکومت جمهوري رياست په غاړه واخلی؟. خو موږ هيڅکه د هغه ملاتړ کړي نه ده، موږ د هغه پرضد يو [۲۱ ، د تحرير فعال، مزارشريف].*

*غني د یوې اسلامي ټولنې پلوی نه دی. هغه د لویدیز او جنایتکارانو چوپړکوي [۳۲، د تحریر فعال، بغلان].*

*هغه ګواکې د افغانستان جمهور رئیس، خو د سی آی ای د ټیټې کچې مزدور دی [۳۶، د تحریر فعال، کابل].*

طالبانو د ۲۰۱۴ کال په کمپاین کې جمهور رئیس غني ته یو څه علاقه وښوده[۲۴]، خو په ۲۰۱۵ کال کې نوموړې علاقه په پوره توګه له منځه ولاړه. ټولو درې مرکه شوو چې په دې ډلې پورې اړه درلوده د غني په اړه منفي خبرې وکړې، د بیلګې په توګه:

*موږ د غني په هکله مثبت نظر نه لرو. هغه د امریکائیانو له خوا ټاکل شوی ده. موږ فکر کاوه چې هغه یو غښتلی پښتون ده، خو هغه نه وو. هغه خپل واک او صلاحیت له شمالي ډلې (عبدالله) سره ویشلی ده چې په زړګونو زرګونو پښتانه یې وژلي دي. د غني تر ټولو بد کار له امریکې سره د ستراتژیک قرارداد لاسلیک کول وو [۷۳، د طالبانو فعال، ننګرهار].*

یوازې د اسلامي ګوند یو فعال (د ګوند غیر قانوني برخه) لا تر اوسه هم د غني په ګټه خبرې کوي:

*په ټولیز ډول، افغان حکومت صادقو خلکو ته اړتیا لري. اوس اوس، فاسد خلک په مقامونو کې دي. هغوی یوازې د خپلو جیبونو لپاره کارکوي. لکه چې پوهیږې، هغوی له بیګناه خلکو څخه بډې اخلي. هغوی پرته له خپل ځان هیچاته پاملرنه نه لري. نوځکه، موږ له اشرف غني څخه غواړو چې پاک، صادق او مسلکي خلک مقرر کړي. هغه باید مسلکي والي ته پام وکړي [۲، د اسلامي حزب (حکمتیار) فعال، مزارشریف].*

*خو په ټولیزه توګه، افراطي اسلامیستان د افغان اوسني حکومت «غیر اسلامي، فاسد، غیر قانوني، او لویدیز پلوه، شمیري» [۵۰، د تحریر فعال، کندز] چې " د خپلو خلکو د محرومتیا په بیه د بهرنیانو د ګټو په چوپړکې دي " [۴۹، د تحریر فعال، کندز]. ورته نظریې د افراطي فعالینو، لکه طالبانو، له خوا وړاندې شوې [۷۳، د طالبانو فعال، ننګرهار].*

د تحریر فعالینو افراطي نظریې ګاونډیو هیوادونو ته هم پراخیږي:

*اسلامي هیوادونه په غلطه لیارکې د نفوذ خاوندان دي، هغوی د اسلام او مسلمانانو د خلاصون لپاره کار نه کوي. د نورو اسلامي هیوادونو دیني عالمان په افغانستان کې د مثبت نفوذ خاوندان دي، خو د ایران، پاکستان او سعودي عربستان حکومتونه د اسلام په ضد دي... د اسلامي هیوادونو حکومتونه باید په افغانستان کې هیڅ نفوذ ونه لري، ځکه چې هغوی هم د غربیانو لاس پوڅي دي. د اسلامي هیوادونو دیني عالمان باید هرومرو په افغانستان کې اغیزه ولري [۳۲، د تحریر فعال، کابل].*

## د اوږپکو پروړاندې دریځونه

په داسې حال کې، چې د ثبت شوو ګوندونو فعالینو آرزو نه درلوده د شورشیانو په اړوند هیڅ ډول لیوالتیا وښیي، د افراطي ډلو فعالینو له وسله والو شورشیانو سره یو ډول خواخوږي درلوده او داخواخوږي یې خپله دنده ګڼله. دا خبره د طالبانو د فعالینو په هکله ښکاره وه، خو د تحریر د فعالینو په هکله چې ګوند ئې په وسله واله مبارزه کې ښکیل نه ده، هومره ښکاره نه بریښیده. د " افراطیونو "یوازې ۳. ۸ سلنې د شورشیانو په وړاندې خپله دښمني څرګنده کړه ( دیارلسم جدول). که څه هم حزب التحریر په وسله وال مخالفت کې ښکیل نه ده، خو دهغه د فعالینو ځانګړې نظر په لاندې ډول وو:

*زه فکر کوم چې طالبان او د حکمتیار اسلامي ګوند زموږ د ډلې په شان نظریات لري، ځکه چې هغوی په افغانستان کې د شریعت د راتګ لپاره جنګیږي، خو د هغوی د جګړې لیار له موږ سره توپیرلري. موږ د بحثونو او استدلال له لیاري جنګیږو، خود طالبانو او اسلامي ګوند د جګړې لار د خلکو د وژلو له لیارې سرته رسیږي. له همدې امله موږ د طالبانو او اسلامي ګوند د پالیسي ملاتړ نه کوو [۲۱، د تحریر فعال، مزارشریف].*

*هغه کسان چې له دې حکومت او لویدیزو یرغلګرو سره جګړه کوي، زموږ لپاره د مجاهدینو په کتار کې شمیرل کیږي؛ هغوی طالبان، حزبیان، القاعده یا اسلامي دولتونه نه دي. هغوی جهادیان او ریښتني مسلمانان دي. موږ د هغوی ملاتړ کوو، د حزب التحریر لپاره د هغوی نظامي او ایډیولوژیک مقاومت د توجیه وړ ده... موږ له طالبانو، د اصلاح جمعیت[۲۵] او نوروخپلواکو تبلیغیانو سره نښې اړیکې لرو [۳۶، د تحریر فعال، کابل].*

۲۴ انتونیو جیستازی، "طالبان او په افغانستان کې د ۲۰۱۴ کال ټاکني" (واشنګتن، دی سی: د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوت، ۲۰۱۴). http://www.usip.org/sites/default/files/PW94-The-Taliban-and-the-2014-Elections-in-Afghanistan.pdf. انتونیو جیستازی او سیلاب منګل، "تاوتریخوالی طالبان او د افغانستان د ۴۱۰۲ کال ټولټاکني" (واشنګتن، ډی سی؛ د متحده ایالاتو د سولې انسټیټوت، ۲۰۱۵). http://www.usip.org/sites/default/files/PW103-Violence-the-Taliban-and-Afghanistan-s-2014-Elections.pdf.

۲۵ د یوه دیني خوځښت په توګه په ۱۹۲۷ کال کې په هند کې د محمد الیاس الکاندهلا وي له خوا جوړشو، د دغې ډلې موخې «له کوز څخه»ا د معنوی سمون لپاره کارکول دي. دغه حرکت چې په اصل کې له دیوبندي خوځښت سره تړاولري، افغانستان ته په دې وروستیو کې پراخ شوی دی.

*زموږ خوځښت د طالبانو د نظریو او ونډې څخه ملاتړ کوي، ځکه چې طالبان هم له شریعت څخه پلوي کوي، خو موږ له نظامي فعالیتونو سره چې په افغانستان کې د بې ګناه خلکو د وژلو لامل کیږي، مخالف یو. دا هغه علت ده چې موږ د یوه خوځښت په توګه د طالبانو ملاتړ نه کوو[۴، د تحریر فعال، مزارشریف].*

## د اسلامي ګوند فعالان ډېر محتاط وو:

*دا هغو ته زما مشوره ده. که چیرې هغوی غواړي چې د افغانستان روښانه راتلونکی ؤلري، نو باید له نورو ورونړو سره یو ځای شي او د ستونزو لپاره د حل لار پیدا کړي. موږ باید خپل فعالیتونه له اسلامي لارو، ترسره کړو. هغوی اړ دي چې له خپلو غلیمانو سره سوله وکړي. سوله اسلامی لیاره ده. البته، موږ باید د کفارو پر ضد جګړه وکړو، ځکه چې هوی زموږ دین او وطن ته زیان رسوي، و دا زموږ دنده ده چې د هغوی مخنیوی وکړو[۲، د اسلامي حزب (حکمتیار) فعال، مزار شریف.]*

حتا د تحریر مرکه شوو فعالینو علاقه لرله چې له شورشیانو څخه ځان لیري وساتي او لږ تر لږه د هغوی بی تبعیضه تاکتکونه وغندي. سره له دې، په عمومی ډول د هغوی په خبرو کې د غندلو په پرتله لیوالتیا ډیره وه.

# ۷. آیا د لوړو ښوونځیو زده کوونکي د افراطیت په لور روان دي؟

د لوړو ښوونځیو د سیاسي کولو په اړه داسې عقیده شتون لري چې دا موضوع هغه ته ورته ده چې تر ډېریدونکي فشار لاندې دې، خو د خوښېدلو ټکي ته رسیدلې نه دي. د خورا ناهیلي شوي زده کوونکو ښکاره مخالفت لکه مظاهرې او اعتراضونه، په نسبي توګه ډېر لږ او کله چې واقع شي ډېره کوچینی کچه لري: حتا د فعالینو په کتار کې، یوازې ۱۷.۴ سلنې د داسې پېښو به اړه خبرې کړې دي(پنځم جدول). د نوموړو اعتراضونو د خصوصیاتو په اړه راټول شوي معلومات ښیي چې اعتراضونو د خصوصیاتو په اړه راټول شوي معلومات ښیي چې اعتراضونو سیاسي بڼه درلوده او ددې پرځای چې موخه یې د زده کړې د سیستم سمون وي، د بندیانو د خلاصون، له نورو اسلامي هدفونو سره خواخوږي، او داسې نورې غوښتنې یې درلودې.

> *یو ځل افغان حکومت زموږ د ښوونځي ځینې زده کوونکي په دې تومت چې طالبانو ته کار کوي، بندیان کړل، خو زموږ اعتراضونه وکړل او د هغوی د بندي کیدلو پر وړاندې مو اداري ته شکایت ؤکړل. نو افغان حکومت نوموړې زده کوونکي آزاد کړل[۷۳، د طالبانو فعال، ننګرهار].*

> *د بیلګې په توګه، د زابل ولایت کې په موټرسایکلونو باندې بندیز ولګید، نو طالبانو موږ ته وویل چې افغان حکومت ته ووایو چې موږ ښوونځې ته په موټر سایکلونو ځو او تاسې پر هغو بندیز لګولی ده، د افغان حکومت نوموی بندیز لیرې کړ. یا کله چې د طالبانو یو غټ قوماندان د افغان حکومت له خوا ونیول شو، نو موږ د هغه د خلاصون لپاره ډېر غټ اعتراضونه وکړل[۷۲، د طالبانو فعال، دایچوپان/زابل].*

د اعتراض یوازنۍ پیښه چې په ځانګړې توګه د زده کړې پر اړه وه په پښتو ژبه تدریس وو:

> *په پیل کې ټول مضمونه په دري ژبه وو، یوازنۍ مضمون د پښتو مضمون وو چې په پښتو ژبه وو خو پښتانه زده کوونکي د دري ژبو زده کوونکو په پرتله ډېر وو. نو ځکه موږ ډېر فشار راووست تر څو مو په پښتو ژبه نصاب تر لاسه کړل[۷۴، د طالبانو فعال، وردک]*

## ۷.۱ د زده کوونکو ترمنځ مخالفتونه

یوي سرچینې ادعا وکړه چې د حکومت پلوه ډلو ترمینځ، په تیره بیا د ټولټاکنو د کمپاین په موده کې، د ډېر تاوتریخوالی شاهد وو:

> *د ټاکنو په موده کې، د جمعیت غړو د جنرال عطا او ډاکتر عبدالله ملاتړ کاوه، خو د جنبش غړو د اشرف غني او جنرال دوستم پلویان وو. ځینې وختونه دغه اختلاف په جګړو ختمیده[۴د تحریر غړی مزار شریف].*

په هر حال، دا لږ واقع کیږي چې د یوې ډلې فعالان د نورو ګوندونو له فعالینو سره د جګړوپه اړه اعتراف وکړي(دوه استثناء ۲۹ ، د جنبش فعال، مزار شریف، او ۷۴ ، د طالبانو فعال، وردګ، دي چې دواړو ؤمنله چې د وحدت له یوه فعال سره یې جګړه کړې ده). ځینې وختونه دا جګړې نژادي او قومي یا فرقه اییز اساس لري( پخوانی پراګراف هم وګورئ):

> *کله چې د محقق د ډلې (وحدت) زده کوونکو د خمیني عکس وځړاوه، موږ د اسلامی حزب او ملي تحریک [۴۲] له زده کوونکو سره خبرې وکړې. موږ هغو ته وویل چې باید دا عکس له دیوال څخه لیرې شي، او وروسته ټول سره راټول شولو، او عکس مو ټوټې ټوټې کړ[۷۴ ، د طالبانو فعال، وردک].*

باید یادونه وکړو چې په افغانستان کې د وردک ولایت د قومي تاوتریخوالي عمده مرکز ګڼل کیږي چې د څرځایونو پر سر د هزاره ګانو – پښتنو د اوږدو کلونو جګړې پکښې شوي دي.

> *د حکومت پلوه ګوندونو هیڅ یوه مرکه شوي شخص اعتراف ؤنه کړ چې په ژبه پورې تړلې موضوعګانې د هغوی د سیاسی بحثونو او منازعاتو یوه برخه وه، خو سروې څرګنده کړه چې ژبني موضوعات له شک پرته د زده کوونکو تر مینځ د بحثونو یوه برخه جوړوي(پنځلسم جدول او څلورم ضمیمه جدول). ځانګړي دلایل وویل شو تر څو توضیح کړي چې ولې د ژبې مسئله د بحثونو لپاره مشروع نه ګڼل کیږي("که چیرې د پښتو یا دري ژبې د مسئلو په اړه خبرې وکړو، نو دا به موږ له یو بل څخه جلا کړي")[۹ ، د جنبش فعال، مزار شریف، ۱۲ ، د اسلامی جمعیت فعال، کابل].*

۴۲ دغه ګوند په دې وروستیو کې د اسمعیل یون له خوا د پښتون افراطي ناسیونالیست خوځښت په توګه رامینځ ته شو چې د کال په ټاکنو کې یې د اشرف غني ملاتړ وکړ. په هر صورت، غني اړ شو چې د یون له خوا د متناقضو نظریو له کبله، له دغې ډلې څخه لیرې شي. یون د تلویزیون یوه شبکه لري چې د هغې له لارې خپل سیاسي نظریات خپروي. نوموړی ګوند په عمده توګه په ختیز او سویل ختیز افغانستان کې شتون لري.

پنځلسم جدول: زده کوونکي فعالین او د دري – پښتو ژبې په اړه بحثونه

| | ټول | غیر قانوني | قانوني، د حکومت ضد | قانوني، حکومت پلوه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر |
| د ژبو پر مسئلو بحث کیږي | ۳۲.۱ | ۱۲ | ۳۳.۳ | ۴ | ۳۰ | ۳ | ۲۰.۸ | ۵ |
| ټول | | ۴۲ | | ۱۲ | | ۱۰ | | ۲۴ |
| | ټول | غیر قانوني | قانوني، د حکومت ضد | قانوني حکومت پلوه | | | | |
| | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر | ٪ | شمیر |
| د ژبو پر مسئلو بحث کیږي | ۳۲.۱ | ۱۲ | ۳۳.۳ | ۴ | ۳۰ | ۳ | ۲۰.۸ | ۵ |
| ټول | | ۴۲ | | ۱۲ | | ۱۰ | | ۲۴ |

په ټولیزه توګه، د مرکه ښوونکي لوي اکثریت ادعا کوله چې پخپل ښوونځي کې له نورو فعالینو سره دوستانه اړیکي لري یا، تر ټولو بد حالت کې، ورته بې توپیره دي. له نورو زده کوونکو سره جګړه کول کیدای شي د زده کوونکي د اخراج لامل شي، خو د لوړو ښوونځیو بیلګه بیز فعال تردي لوړې آرزوګانې لري، چې له ښوونځۍ وایستل شي.

## ۷.۲ د سیاسي کېدو لاملونه

د ۲۰۰۱ کال وروسته سیاسي آزادۍ او دې غوښتنې ترمنځ چې لوړ ښوونځۍ باید له سیاست څخه جلا شي، ښکاره تناقض وجود لري[۲۱ ، ښوونکی، ننګرهار، ۵۲ ، ښوونکی، مزار]:

> *د تلویزیونونو د ډیریدونکو کانالونو او په هغو کې د ډیرو سیاسي بحثونو وړاندې کیدل ددې لامل شوي دي چې دا بحثونه هرې ټولنیزې طبقې ته لار پیدا کړي. په عین حال کې، سیاسي ګوندونه په ټولنه کې د ځوانانو او نوي ذهنیتونو په جلب او جذب کې فعال دي[۴۳ ، ښوونکی، کلبهار / پروان].*

دا خبره له عقل سره برابره ده. په حقیقت کې ډیرو مرکه شوو وویل چې د ۲۰۱۴ کال د جمهوري ریاست کمپاینونو په ښوونځیو کې ډیر خوځښت رامینځ ته کړ، او هغه ئې په ښوونځیو کې د سیاسي بحث لپاره په یوې په زړه پورې موضوع باندې بدل کړ (ضمیمه دولسم جدول وګورئ). یوه ښوونکي څرګنده کړه چې د زده کړو په جوړښتونو کې بی عدالتي هم یو عامل دی چې د جلب او جذب د هڅولو سبب برابروي [۵۲ ، ښوونکی، جلال آباد، شورش ته د جلب او جذب لپاره لاندنی برخه ۸. ۳ وګورئ]. د یوه ښوونکي په خبره، لږ تر لږه په ننګرهار کې، سیاسي فعالیتونه د جلال آباد په پرتله د ولسیو د ښوونځیو په زده کوونکو کې ډیر دي[۵۵ ، ښوونکی، جلال آباد]. داسې ښکاري چې ناهیلی، لوړو زده کړو ته د لاسرسی لږ امکاناتو سره یو ځای د لوړو ښوونځیو زده کوونکو د سیاسي کیدلو عمده عامل دی. په ټولیز ډول، له زده کوونکو فعالینو سره ۴۲ مرکو دا دلیلونه تائید کړل: د زده کوونکو فعالینو یوازې ۴۱.۳ سلنې له افغان زده کړې سیستم څخه رضایت وښود، دغه سلنه په قانوني خو د حکومت ضد ډلو فعالینو کې ۴۰٪ او د غیر قانوني ډلو د فعالینو په مینځ کې صفر سلنه ده(۱۱ جدول). که څه هم د غیر قانوني ډلو فعالینو ځوابونه منفي خواته تمایل لري، داسې ښکاري چې دا موضوع هم د زده کړې سیستم څخه د هغوی د ناهیلۍ څرګندوي ده. نور ځوابونه چې د همدې تمایل ښکارندوي دي د غیر قانوني ډلو لږ سلنه ښیې چې په پوهنتون(۷۵ سلنه ، د حکومت پلوه ډلو د ۱۰۰ سلنې په برابر کې) ، یا بهر کې د (۲۲.۷ سلنه د حکومت پلوه ډلو د ۱۰۰ سلنې په پرتله) د نورو زده کړو پلان او هیله لري، که څه هم په پوره شرایطو کې نوموړې سلنې خورا ډیرې ښکاري.

## ۷.۳ اوریکی ته جلب او جذب

له هغه «تبعیض» او "توپیر" سره سره چې په پورته ۳. ۲ برخه کې خبرې پرې وشوې، حتی د هغو جوړښتونو په اړه چې په هغو کې بندیز لګولي شوي ده، د پوهنې وزارت نشي کولای په ښوونځیو کې تر ځمکې لاندې پټو سیاسي فعالیتونو او جلب او جذب مخه ونیسي. ځینې ښوونکو وویل چې حتا له طالبانو سره ئې د زده کوونکو یو ځای کیدل لیدلي دي.

> *زه داسې یو ځوان پیژنم چې له طلبانو سره یو ځی شو، او وروسته د هغه کورنۍ له غرونو څخه بیرته کور ته راستون کړ[۴۳ ، ښوونکی، کلبهار/ پروان].*

